# **زما له تیارو وتنه؛** د منل کېدو په پار، د بشري حقونو د ملاتړو افغانو مېرمنو جګړه



AMPLIFYING WOMEN AND GIRLS IN CRISES
voice

# کورودانی

داسې ورځ نه ده راغلې چې د ښځو د بشري حقونو افغانو ملاترو مېرمنو دې پکې موږ ته یو نوی الهام نه وي راکړی. نړۍ که ستاسې مېرمنو اوسنۍ سربښندنې او هغه قربانۍ چې د یوې داسې نړۍ لپاره یې ورکوئ چې هلته پکې ښځې او نجونې له وېرې او ډار پرته ژوند وکولای شي، درک کړې او عبرت یې ځنې واخیست، بیا یې د جوړېدو تمه هم کېدای شي.

موږ له تاسې ټولو هغو افغانو مېرمنو مننه کوو چې خپل درک، پوهه، هیلې او وریاندې تېرې تجربې یې راسره شریکې کړې. تاسې په بېخي سختو حالاتو کې د ښځو د بشري حقونو ساتنې او په دغه برخه کې خپلې مبارزې ته ژمنې پاتې شوئ، موږ ستاسې همدې ثابت قدمي ته په احترام د دغه راپور ویاړ تاسې ته درکوو، خدای دې وکړي چې موږ به د واقیعیتونو په رڼا کې ستاسې اندونه او نظرونه په رښتینولي لېږدولي وي. موږ د نړۍ په کچه د ښځو لپاره د یوه ښه راتلونکي ارمان لرو او د همدې ارمان لپاره په ډېر اخلاص او درناوي ستاسې تر خوا ولاړې یوو.

که د VOICE په ځانګړې څېړنیزه ډله کې د فریدې عباسي، پرښتې عباسي، نرګس نهان، یلدا رویان، مدینې محبوبي او طاهرې کلیم شتون، لارښوونې او تجربې نه وای، دا راپور نه جوړېده.

زموږ دغه راپور بروک بمګارنر، الیزابیت کیفرتي، ویرجینیا ګارسیا بولیور او سوفي ریډهامیلټن لیکلی او کاسي ډینبو، ندا مشتاق، ناتاشا سیمون الیکزینکو او وایلیټ لهیو اوډلی دی. له ایرین سیپمییر، کیارا پیروانو، پرل ډیسوزا څخه مننه چې راپور یې ترتیب او ډیزاین او همدارنګه له شاه او رویا څخه هم مننه کوو چې دغه راپور یې په پښتو او دري ژبو وژباړه.

VOICE په دې سربېره، له خپلو ټولو ملاترو، تمویلوونکیو او متحدینو ملګرو مننه کوي.

# د مضامینو فهرست


**لنډیز** **۶**

**مخینه** **۸**

الف- په افغانستان کې له ۱۹۰۰ تر ۲۰۲۱ پورې د ښځو د حقونو تاریخچه ۸

ب- د طالبانو بیا راتګ او پر وړاندې یې د ښځینه خوځښتونو غبرګون (له ۲۰۲۱ څخه تر اوسه پورې) ۱۰

**مخینه** **۱۵**

الف- د وایس په اړه ۱۵

ب- د ارزونې موخې ۱۶

ج- تګلاره او کړنلاره ۱۶

**موندنې** **۱۹**

**الف- امنیت او خوندیتوب** **۲۰**

۱- په افغانستان کې د ښځو پر حقونو بندیزونه ۲۱

۲- د ښځو او نجونو پر وړاندې زور زیاتی ۲۳

۳- شته خدماتو ته لاسرسی ۲۵

الف- ولادي او لومړنیو روغتیایي اسانتیاوو ته لاسرسی ۲۸

ب- اروايي درملنې او اروايي ډاډ ته لاسرسی ۲۹

ج- امن کور ته رسيدګي ۳۱

د- کار او روزګار ته رسيدګي ۳۲

۴- د نړيوالې ټولنې "ناراستي" ۳۲

الف- "هيڅوک دې طالبان په رسميت نه پېژني" ۲۸

ب- "افغانو مېرمنو ته غوږ سئ" ۲۹

**ب- بيا مېشتېدنه ۳۷**

۱- له افغانستانه تر وتلو وروسته ناخوالې ۳۸

۲- د بيا مېشتېدنې په برخه کې مرستې ۴۰

۳- د مېشتېدنې ګونګه پروسه ۴۱

۴- پر لاره او کوربه هېوادونو کې تبعيضي چلند ۴۳

**ج- هلې ځلې ۴۴**

۱- ښځو ته کار د ژوند او هويت په مانا ۳۵

۲- د فعاليت اوسنی وضعيت ۴۶

الف- په افغانستان کې دننه ۴۶

ب- له افغانستانه د باندې ۴۷

**وړانديزونه ۵۱**

۱- حکومتونه او د ملګرو ملتونو اړوندې ادارې دې پر طالبانو فشار زيات کړي چې د افغانو مېرمنو او نجونو حقونه په رسميت وپېژني او احترام يې وکړي. ۵۳

-۲ حکومتونه، د ملګرو ملتونو اړوندې او نورې نادولتې اداري دې هغو بشردوستانه او پرمختیایي پروګرامونو ته لومړیتوب ورکړي چې د ښځو امنیت، خوندیتوب او د دوی د حقونو ساتنه کوي او ښځو ته په ټولو چارو کې د ښکېلتیا زمینه برابروي. ۵۴

-۳ حکومتونه، د ملګرو ماتونو اړوندې اداري او نادولتي موسسې دي لومړنیو خدماتو او اساسي حقونو ته د بې کوره شویو افغانو مېرمنو خوندي لاسرسی تضمین کړي. ۵۵

-۴ کوربه حکومتونه، د ملګرو ملتونو اړوندې او نورې نادولتي اداري دې د ښځو د بشري حقونو افغانو ملاتړو مېرمنو ته د زده‌کړو او دوامدار عاید زمینې برابرې کړي. ۵۶

-۵ حکومتونه دې د ښځو د بشري حقونو د بې‌کوره شویو ملاتړو افغانو مېرمنو ځای پر ځای کېدو ته لومړیتوب ورکړي او دغه پروسه دې په عاجله توګه ګړندۍ کړي. ۵۶

-۶ حکومتونه دې د ښځو د بشري حقونو د بې‌کوره شویو ملاتړو افغانو مېرمنو ځای پر ځای کېدو ته لومړیتوب ورکړي او دغه پروسه دې په عاجله توګه ګړندۍ کړي. ۵۷

# لنډيز

د ۲۰۲۱ مېلادي کال په اګسټ کې پر افغانستان د طالبانو تسلط په میلیونونو افغانې مېرمنې یا په کور دننه یا له هېواده د باندې په جلاوطنۍ، بې کورۍ او بې ځایه کېدو مجبوره کړې. طالبانو له ښځو څخه حتا د ژوند لومړنۍ حقونه هم واخیستل.

د ښځو د بشري حقونو افغانې ملاتړې مېرمنې چې وار له مخه یې لا په دې برخه کې مبارزې ته مټې رابډوهلې وې، لا هم په داسې حال کې چې دوی او کورنۍ دواړه یې له جدي ګواښ سره مخ دي، هم په کور دننه او هم له افغانستانه د باندې د طالبانو د مستبد حاکمیت پر وړاندې مقاومت کوي او خپلې چارې یې روانې ساتلې دي.

دوی په یوه بوږنوونکې حالت کې ژوند کوي، دوی د ښځو د حقونو لپاره په خپلو مبارزو او فعالیتونو کې له تهدیده نیولې، تر ځورولو، سرقلفي زندانونو او حتا تري تم کېدو پورې له ګڼو ګواښونو سره لاس او ګرېوان دي. په افغانستان کې د پاتې دغو مېرمنو اکثریتو یې له مجبورۍ کورونه پرې ایښي او له نورو بې ځایه شویو ښځو سره یو ځای شوې دي خو هلته هم، له دوی څخه د ناوړه ګټه پورته کولو، تبعیض، د ښځو او نجونو پر وړاندې له تشدد، بې کسي او ناخوندیتوب سره مخ دي. که څه هم د ښځو د حقونو زیات شمېر نامتو افغانې مدافعانې له افغانستان څخه را ایستل شوې دي، خو دا مهال په بېلابېلو نابلدو هېوادونو کې، د مېشتېدنې تر بېلابېلو سرګردانو مرحلو تېرېږي.

د تېرو دوو لسیزو په اوږدو کې د افغانستان مېرمنو د ښځو د حقونو تر لاسه کولو او په افغانستان کې د ژوند په ټولو برخو کې برابري ته د رسېدلو په موخه؛ له نړیوالې ټولنې سره همېشه اوږه په اوږه کار کړی دی، مګر نن د همدې نړیوالې ټولنې د ملاتړ غوږ کمېدل د دې سبب شول چې هلته د ښځو په مشري مهمې اداري وتړل شوې، حیاتي سرچینې له منځه ولاړې، ښځو او نجونو ته اړین خدمات پارچاو شول او په پایله کې یې دغه ښځې د ورپېښې بې کسي له امله فکر کوي چې نړیوالې ټولنې په دغسې سختو شرایطو کې مخ ځنې اړولی دی.
په عین حال کې، د ښځو د بشري حقونو دغه افغانې ملاتړې مېرمنې د طالبانو تر جبر لاندې، د تر ټولو سوله‌ییز او مدني ځواک په توګه را څرګندې شوې دي.

دوی سره له دې چې د ملاتړ هیڅوک نه لري او په دې سربېره، هره لحظه د طالبانو له خوا د زنداني کېدو، وهلو او ټکلو وېره ورسره تړلې، اما دوی بیا هم د ښځو، نجونو او نورو مظلومو ډلو د حقونو لپاره مظاهرې جوړوي او مبارزه کوي.

VOICE د ۲۰۲۲ په اګسټ کې، د طالبانو لاس ته د واک تر ورتلو وروسته، د ښځو د بشري حقونو د افغانو مدافعینو د تجربو او ضرورتونو د لا روښانولو په موخه یوه ارزیابي وکړه. په دغه ارزونه کې د خپلمنځي ګډون او ښکېلتیا داسې مېتودونه کارول شوي دي چې له ښځ‌پالنې، د ځانغوښتنې پر ضد ولاړو ارزښتونو او متقابل احترام څخه سرچینې اخلي. په دغه ارزونه کې له مهمو مالوماتې مرکو استفاده شوې ده او په دې سربېره هڅه پکې شوې ده چې د هنر له لارې مالومات راټول او په دې توګه ښځې وهڅوي چې شبکې جوړې کړي  او د عدالت او بدلون لپاره خپل غږ پورته کړي.

په دغه ارزونه کې ټول ټال اووه اتیا مرکې شوې دي چې پکې د ښځو د بشري حقونو له افغانستانه وتلې او په افغانستان کې پاتې ښځینه مدافعانې پوښتل شوې دي. دوی ټولې یې د افغانستان تر سقوط وروسته بې‌ځایه او یا بې‌کوره شوې او ډېری یې اوس په بېلابېلو هېوادونو کې د مېشتېدنې په چارو بوختې دي.

د دغې ارزونې موندنې بې شمېره داسې لارې چارې د تجربو او ناخوالو په رڼا کې روښانه کوي چې د ښځو د بشري حقونو افغانو مدافعانو د ځان له خوندیتوبه نیولې، له خطرونو سره تر مخ کېدو او ځان ساتنې پورې تجربه کړې او د ځینو لومړنیو حقونو د تر لاسه کولو لپاره ګاللې دي.
د دغو موندنو په اساس، په ډاګه کېږي چې د ښځو د بشري حقونو د افغانو مدافعانو له خدیتوبه نیولې، تر هوساینې، روغتیایي خدماتو ته تر لاسرسي، تر نورو اساسي حقونو، مناسب کور، زده‌کړو او یوه دوامداره عاید تر موندلو پورې، په ټولو برخو کې دوی ته نړیوال غبرګون بېخي پڅ دی.
تر دې ورهاخوا، د مېشتېدنې پروسې دې چې دغه مېرمنې یې له ګنګستیا سره مخې کړې دي. موندنې په دې سربېره، د بشري حقونو د ملاتړو افغانو مېرمنو هغه قناعت او صبر ته هم د خلکو پام را اړوي چې په نه منلو وړ تکلیفونو او سختو شرایطو کې یې کړی دی.

د راپور یوه برخه هغو سپارښتنو ته ځانګړې شوې چې د ښځو د بشري حقونو افغانو مدافعانو د اوسني حالت د لاښه کولو لپاره وړاندې کړې دي. دغه سپارښتنې چې دلته یې لنډه یادونه کېږي او په راپور کې ورباندې په تفصیل خبرې شوې، پر دې راڅرخي چې ځنګه کولای شو هم په افغانستان کې دننه او هم د باندې د دوی او د دوی د حقونو په خوندیتوب، د دوی د روانې مبارزې ملاتړ وکړو. په راپور کې د اوسني وضعیت فوق العاده سیاسي او لوجیسټکي ننګونو او تر اوسه پورې شویو څه ناڅه مرستو ته په کتو، پر نړیواله ټولنه غږ شوی چې د افغانانو نجونو او مېرمنو د ساتنې په برخه کې دې خپلې کړې وعدې وریادې او عمل ورباندې وکړي.

د افغانو مېرمنو وړاندیزونو ته په کتو، باید ټول ښکېل اړخونه د دغو ښځو غږ، تجربې او رهبري سره راټول او دوی د ټولو پروګرامونو په اوډلو، رسولو او پروسې څارولو کې یې ښکېلې کړي.

1. پر طالبانو سیاسي فشار راوړئ چې د افغان مېرمنو حقونه په رسمیت وپېژني او درناوی یې وکړي.

2. هغو بشردوستانه او پراختیایي پروګرامونو ته لومړیتوب ورکړئ چې د ښځو د خوندیتوب، امنیت او حقونو د ساتنې ملاتړ کوي او ښځې د ساري په توګه راښکېلوي.

3. له افغانستان څخه د را ایستلو شویو ښځو اساسي حقونه خوندي او اړینو خدماتو ته د دوی لاسرسی تضمین کړئ.

4. له افغانستانه را بې‌وطنه شویو مېرمنو ته امکانات برابر کړئ او د زده‌کړو د بهیر غم یې وخورئ.

5. د افغانو مېرمنو ځای پر ځای کولو ته په بیړنۍ توګه لومړتوب ورکړئ.

6. د افغانو نجونو او مېرمنو روانې چارې او فعالیتونه بدرګه کړئ.

VOICE پر ټولو ښکېلو اړخونو غږ کوي چې د افغانو ښځو د حقونو د ساتنې په برخه کې دې د خپلو مسوولیتونو او مکلفیتونه په پوره کولو سربېره، د دوی روانو فعالیتونو ته د یوه خوندي چاپېریال په جوړولو کار وکړي. خدای دې وکړي چې دغه راپور نه یوازې د استبداد پر وړاندې د افغانو مېرمنو رښتینی غږ راپورته کړي، بلکې هیله لرو چې زموږ دغه هڅې به د یوې وسیلې په توګه عدالت، هیلو او ثبات ته د رسېدو په برخه کې دوی باوري کړي چې VOICE او د نړۍ نورې ښځېالې ادارې له دوی سره هغومره په اخلاص ولاړې دي، څنګه چې دوی د خپلو حقونو، انسانیت او راتلونکي لپاره مبارزه کوي.



## لومړی څپرکی

# مخینه

## الف- په افغانستان کې له ۱۹۰۰ تر ۲۰۲۱ پورې د ښځو د حقونو تاریخچه

افغانو مېرمنو د شلمې پېړۍ له لومړنيو کالونو را په دې خوا د خپلو حقونو د تر لاسه کولو او د ښځو او نجونو د ژوند ښه کولو په موخه هڅې او فعالیتونه پیل کړي دي.[1] دوی ته په ۱۹۱۹ مېلادي کال کې د رایې ورکولو حق ورکول شوی.[2] په داسې حال کې چې دغه حق یو کال وروسته په متحده ایالاتو کې ښځو تر لاسه کړی دی. د تېرې پېړۍ په لومړیو پنځوسو کلونو کې، د افغانانو په روزمره ژوند کې د ښځو رول او حقونه دواړه د پام وړ زیات شوي دي.[3] افغانستان په ۱۹۶۰م کې داسې نوی قانون جوړ کړ چې په سیاسي او اقتصادو برخو کې یې د ښځو د ګډون پر زیاتوالي ټینګار کاوه،[4] خو دېرش کاله وروسته، د ۱۹۹۰یمې لسیزې په لومړیو کې پر افغانستان د طالبانو د مخکېني رژیم تر حاکمېدو وروسته، طالبانو د اسلامي شرعیت د توندلاري قانون په زور د افغانو ښځو او نجونو زیات حقونه تر پښو لاندې کړل.[5]

طالبانو په ۱۹۹۴یم کال کې د ښځو او نجونو پر کار کولو، ښوونځیو ته تګ، له نارینه پرته له کوره پر وتلو، مخ لوڅولو، نارینه ډاکټر ته پر کتنې‌تللو او حتا د خلکو په مخ کې د ښځو په خبرو کولو بندیزونه ولګول.[6] وروسته په

[1] Canadian Women for Women in Afghanistan, "Afghan Women in History: The 20th Century" (n.d.).

[2] Amnesty International UK, "Women in Afghanistan: the back story," 27 July 2022.

[3] Amnesty International UK, "Women in Afghanistan."

[4] Amnesty International UK, "Women in Afghanistan," and Canadian Women for Women in Afghanistan, "Afghan Women in History."

[5] Hannah Bogaert, "History Repeating Itself: The Resurgence of the Taliban and the Abandonment of Afghan Women." *Immigration and Human Rights Law Review*: Vol. 4: Iss. 1, Article 3 (2022).

[6] Bogaert, "History Repeating Itself," p. 10

تدريجي توګه د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتريخوالی زيات او د طالبانو د مستبد قانون ماتولو سزاوې سختې او لا کلکې شوې او بيا سوکه سوکه په نړېواله ټولنه کې د طالبانو پر حاکميت او له بشری حقونو څخه د دوی د سرغړونو په اړه بحثونه را پورته شول.[7]

بالاخره، د امريکا متحده ايالاتو د نوييمو کالونو په لومړيو کې د دې ټولو سرغړونو، تشدد او په ځانګړې توګه د القاعده شبکې القاعده غړيو ته د پناه ورکولو له امله پر افغانستان تحريمونه وضع کړل.[8]
د ۲۰۲۱م کال د سپټامبر پر يوولسمه پر نړېوال سوداګريز مرکز بريد هغه اندېښنې لا زياتې کړې چې افغانستان به د نړيوالو ترهګرو ټروريسټانو پر خوندي مرکز واوړي،[9] څکه خو متحده ايالاتو د ناټو د غړيو په ګډون، د ځلوېښتو هېوادونو په ملتيا افغانستان د هماغه کال تر پايه له طالبانو ونيو.[10] طالبانو

پر افغانستان د امريکا تر بريد وروسته په تېرو دوو لسيزو کې افغانو مېرمنو بېرته د ښځو او نجونو د حقونو تر لاسه کولو ته مټې راونغښتې.[11] نجونې ښوونځيو ته ولاړې [12] د ۲۰۰۱م په وروستو کې د افغانو مېرمنو د چارو د تنظيم او بهترې په موخه يو وزارت جوړ شو. په ۲۰۰۳م کې د افغانستان اساسي قانون چې د ښځو ټول حقونه يې په رسميت پېژندل تصويب شو او په ۲۰۰۹م کال کې د ولسمشر په فرمان د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون پلی شو.[13] تر هغه وروسته د ښځو د خونديتوب او په ورځني او سياسي ژوند کې د دوی د ګډون لپاره بېلابېل ګامونه واخيستل شول.[14]
په ۲۰۱۵م کې افغانستان له ۲۰۱۵ تر ۲۰۱۸ او له ۲۰۱۹ څخه تر ۲۰۲۲ پورې د دوو دورو لپاره، خپل لومړنی ملي اقدام تصويب کړ.[15] په دغو ټولو پرمختګونو کې د افغانو مېرمنو خوځښتونو مرکزي رول لوباوه او سره له دې چې له سختو ننګونو سره مخ وې، اما د پام وړ پرمختګونه يې وکړل.

---

[7] The precise meaning of the term ‘international community’ is hard to discern. It is often used to refer to Western countries such as the U.S., Canada, countries of the European Union, the United Kingdom, and other countries with international influence.

[8] Clayton Thomas, *Taliban Government in Afghanistan: Background and Issues for Congress.* Congressional Research Service (2 November, 2021).

[9] Lindsay Maizland, “The Taliban in Afghanistan,” Council on Foreign Relations, 17 August 2022.

[10] Maizland, “The Taliban in Afghanistan.”

[11] Bogaert, “History Repeating Itself.”

[12] In 2003, less than 10% of girls were enrolled in elementary schools; by 2017, that figure had risen to 33%, while girls’ enrollment in secondary education increased from 6% in 2003 to 39% in 2017. For more information, see The Word Bank, *Policy Note: Afghanistan’s Development Gains: Progress and challenges* (2020).

[13] Family mediation is a common approach to resolving gender-based violence cases under EVAW, despite the risks this poses to many women. The EVAW law prohibits the use of mediation in only five kinds of offenses against women: rape, forced sex, publicizing the identity of a victim, burning or the use of chemical substances to cause harm, and forced self-immolation or suicide. “In all other cases, police and other officials can pressure the woman to have her case resolved through mediation.” Human Rights Watch, *“I Thought Our Life Might Get Better”: Implementing Afghanistan’s Elimination of Violence Against Women Law* (2021), p. 3.

[14] According to Article 83 of the 2004 Constitution, 68 of the 249 total seats (27%) in the Lower House (Wolesi Jirga) are reserved for women, comprising at least two women for each of the 34 provinces of the country. For more information, see www.idea.int/data-tools/data/gender-quotas/country-view/44/35.

[15] Women’s Peace and Security Programme, “Afghanistan,” Women’s International League of Peace and Freedom, available at: http://1325naps.peacewomen.org/index.php/afghanistan/ (accessed 19 October 2022).

په زرمو کالونو کې په افغانستان کې د ښځو په مشرۍ څه کم اته سوه ادارو د ښځو او نجونو د حقونو د خوندیتوب او ملاتړ لپاره کار کاوه. په دغو ادارو کې زرونو فعالانې راټولې وې چې تر اوسه په زړورتیا مبارزه کوي.[16]

د دغو پرمختګونو اغېزې او څرکونه تر ډېره د کابل په ګڼمېشت او نسبتا ازادخیال ښار کې د اشرافو په کورنیو کې ډېر لیدل کېدل، خو د افغانستان تر اویا سلنه زیات وګړي له کابله د باندې اوسي[17] دوی د جګړو، لوږې او ناامنیو له امله په ناوړه وضعیت کې ژوند کوي.
همدې تفاوت بیا د کلیو او ښارونو تر منځ واټن زیات کړی و. که څه هم په تېر کې پرمختګونه شوي، خو لا هم هغه نجونې او ښځې چې حتا د کابل په څو کیلومټري کې اوسي، له ګڼو فشارونو او سرګردانیو سره لاس او ګرېوان دي.

په ټوله کې، په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالی لمن ډېره پراخه ده چې له وهلو، ټکولو نیولې تر جنسي ځورونې او تېري پورې رسېږي او همدا رنګه اروايي او اقتصادي تاوتریخوالي هم په ځان کې رانغاړي. د دغه هېواد اووه اتیا سلنه ښځې د خپلو کورنیو د غړیو له خوا له کورني تاوتریخوالي او تشدد سره مخ دي.[18]
په افغانستان کې د نفوسو او روغتیا یوه نظر پوښتنه ښيي چې د دغه هېواد شپږپنځوس سلنه ښځې، له پنځلس څخه تر نهه څلوېښت کلنۍ پورې د ژوند د ملګري او یا یې د خپلوانو له خوا له فزیکي، جنسي او عاطفي تاوتریخوالي سره مخ دي چې په ځینو ولایتونو کې خو حتا د دغسې ښځو شمېر په سلو کې دوه نوي ته پورته کېږي.[19] په کم عمر ودونه، په بدل او بدو کې د ښځول ورکول نورې هغه ستونزې دي چې افغانې مېرمنې ورسره مخ دي.
د یوه اټکل په اساس، په افغانستان کې له دېرش څخه تر څلوېښت سلنه نجونې تر اتلس کلنۍ مخکې ودېږي.[20]
په کم عمر واده خپله بېلابېلو ستونزو او حتا د نجونو مړینې ته زمینه برابروي[21] او کله کله خو ښځې او نجونې د کورني تاوتریخوالي په ګډون له ګڼو نورو ستونزو سره هم مخ کوي.[22]

---

[16] Canadian Women for Women in Afghanistan, "Afghan Women in History."

[17] See data from The World Bank at: https://data.worldbank.org/indicator/SP.RUR.TOTL.ZS?locations=AF.

[18] Diya Nijhowne and Lauryn Oates, *Living with Violence: A National Report on Domestic Abuse in Afghanistan,* Global Rights: Partners for Justice (Washington, DC, 2008).

[19] Central Statistics Organization (CSO), Ministry of Public Health (MoPH), and ICF, "Afghanistan: Demographic and Health Survey, 2015" (Kabul, Afghanistan, Central Statistics Organization, 2017).

[20] United Nations Children's Fund (UNICEF), *Child Marriage in Afghanistan: Changing the narrative* (2018).

[21] Nawal Nour, "*Child Marriage: A Silent Health and Human Rights Issue,"* Reviews in Obstetrics & Gynecology, vol. 2, No. 1 (Winter 2009).

[22] Nijhowne and Oates, *Living with Violence.*

# ب- د طالبانو بیا راتګ او پر وړاندې یې د ښځینه خوځښتونو غبرګون (له ۲۰۲۱ څخه تر اوسه پورې)

د امریکا متحده ایالاتو په ۲۰۲۰م کې له طالبانو سره د سولې تر تړون وروسته، په ۲۰۲۱م کې له افغانستان څخه د خپلو سرتېرو په راایستلو کار پیل کړ.[23] له افغانستان څخه د امریکایي سرتېرو دغسې وتل، په خپله یوه ګډودي وه چې د ۲۰۲۱م د اګسټ په څو شپو ورځو کې پېښه شوه او په پایله کې یې د افغانستان حکومت نسکور او طالبانو بیا د دغه هېواد واک تر لاسه کړ.[24]

هغه هېوادونه چې په تېرو شلو کالو کې د افغانانو د پرمختګ او هوساینې او په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو د خوندیتوب لپاره نړیوال ماموریت ورسپارل شوی و، په دې کې پاتې راغلل "چې د یوه داسې نظام جوړښتونه پر پښو ولاړ وساتي چې له جدي خطر سره د افغانانو مخامخ بشري حقونه خوندي کړي."[25]
د ځینو نورو غربي قدرتونو په ګډون، د امریکا متحده ایالات څکه د دغې بې‌ثباتۍ او ګډوډۍ پړه بلل کېږي چې دوی وار له مخه د افغان مېرمنو ورکول شوي خبرداري بابېزه وبلل او له افغانستان څخه په وتلو یې، هلته د قدرت خلا جوړه کړه چې په پایله کې یې طالبانو بیا افغانستان ونیو.[26] د افغانانو لومړني اساسي حقونه تر پښو لاندې او طالبانو یو ځل بیا خپل هماغه اسلامي شرعي قانون د ځان په خوښه د خلکو لپاره تفسیر کړ.[27]

د ۲۰۲۱م د اګسټ دغو پېښو د افغانو ښځو او نجونو ژوند په بشپړه توګه بدل کړ، د دوی حقونه ژر ژر او یو په بل پسې تر پښو لاندې شول او حتا اوس د روغتیا، زده‌کړو، خوندیتوب، بدني روغتیا، راشه درشې او راټولېدو حق هم نه لري.[28] په دغه موده کې د افغانستان د ښځو چارو وزارت، د بشري حقونو کمېسیون او بېلابېل سیمه‌ییز بنسټونه چې د ښځو او نجونو په ملاتړ یې کار کاوه، وتړل شول او په دې سربېره، نجونې او ښځې نه یوازې په دفترونو کې له کار کولو څخه راوګرځول شوې، بلکې له ټولو عدلي او امنیتي سکټورونو او عامه ادارو څخه وایستل شوې.
په دې سربېره، ښځې او نجونې له بېلابېلو ګواښونو، ځورولو، په خپل سر زنداني کولو او حتا ترې تم کېدو سره مخ شوې[29] او ډېرې نجونې او ښځې خو حتا د وطن او کور پرېښودو ته اړې شوې.[30]

---

[23] Bogaert, “History Repeating Itself.”

[24] Bogaert, “History Repeating Itself.”

[25] Hendrik Cremer and Catharina Hübner, *Responsibility for basic and human rights following the withdrawal from Afghanistan: On Germany’s duty to protect particularly vulnerable Afghans* (Berlin, German Institute for Human Rights, 2022), p. 16.

[26] Bogaert, “History Repeating Itself.”

[27] Horia Mosadiq, Zamarey Faqiri, and Lucy van der Kroft, “State of Human Rights Defenders in Afghanistan Year 2021,” Safety and Risk Mitigation Organization Annual Report (SRMO, 2021), p. 6.

[28] VOICE, “Taliban’s Policies Restricting Women’s Rights since August 2021,” 22 June 2022. Available at: https://voiceamplified.org/wp-content/uploads/2022/06/The-Talibans-restrictions-on-womens-rights-since-August-2021.pdf

[29] Human Right Watch, “Afghanistan: Women Protesters Detail Taliban Abuse,” 20 October 2022.

[30] Mosadiq and others, “State of Human Rights Defenders in Afghanistan.”

د طالبانو رژیم په ټوله کې، ټولې هغه نجونې او ښځې چې له قومي لږکیو (هزاره او تاجک) څخه دي، ښځینه همجنس‌پرستانې، نارینه همجنس‌پرستان، نارینه او ښځینه همجنس‌پرستان او دوجنسه افغانان له ګڼو ګواښونو سره مخ کړي دي. [31]

له هغې ورځې چې نړیوال سرتېري له افغانستانه څخه وتلي، ګڼ شمېر دغه کسان او د ښځو د حقونو مدافعانې د ورپېښو ګواښونو او خطرونو له وېرې اوس په پټه ژوند تېروي.[32]
طالبانو د واک له تر لاسه کولو وروسته د مدني ټولنو، حکومت، رسنیو او امنیتي ارګانونو د ښځینه کارکوونکیو پل پسې اخیستې او پلټنې ورپسې کوي. هغه نجونې چې د خپلو حقونو لپاره یې مظاهرې کولې، له وهلو نیولې، تر ډارولو، په فزیکي توګه ځورولو، په خپل سر تر نیولو او جبري اعترافونو پورې یا ځورول شوې یا د ازار له ګواښ سره مخ دي.
د نامناسبې حقوقي پروسې له نشتوالي سره سره، حتا د ځینو ښځو او نجونو د کورنیو غړي هم له دوی سره یو ځای نیول شوي او شکنجه شوي دي. [33]

د تر لاسه شویو شمېرو په اساس، په افغانستان کې یوازې په ۲۰۲۱م کال کې اووه دېرش تنې فعالانې او د رسنیو کارکوونکي په هدفي توګه وژل شوې دي او لا هم طالبان د هغو خلکو او په ځانګړې توګه ښځو په غږ تربتولو لګیا دي چې د دوی د ظلم پر وړاندې درېږي. [34]

د طالبانو تر راتګ وروسته که څه هم د ځینو حکومتونو او بنسټونه په مرسته د ښځو د بشري حقونو ډېری افغانې ملاتړې مېرمنې له افغانستانه ایستل شوې، خو لا هم دا مهال د امریکا په متحده ایالاتو، کاناډا، استرالیا، انګلستان او ځینو نورو اروپایي هېوادونو کې د بیا مېشتېدنې خوارۍ ګالي.
د بشري چارو د همغږۍ د دفتر (OCHA) د مالوماتو په اساس، په ۲۰۲۱م کې اووه سوه زره افغانان چې ۲۱٪ یې ښځې او ۵۹٪ ماشومان دي، بې‌ځایه شوي او په دې توګه د همدې کال تر ډسمبر پورې په افغانستان کې د داخلي بې‌ځایه شویو افغانانو شمېر درې اعشاریه، څلور میلیونو ته رسېږي.[36,35]

د ۲۰۲۲م د جولای تر لومړۍ نېټې پورې له افغانستان څخه ګاونډیو هېوادونو ایران، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان ته تر دوه میلیونه زیات راجستر شوي افغانان کډوال شوي دي،[37] خو هغوی چې

[31] U.S. Policy Advocates for Afghan Women and Girls Working Group, *Futures in the Balance: Taking Action to Ensure Afghan Women's and Girls' Rights Under Taliban Rule* (2022).
[32] Farkhondeh Akbari and Jacqui True, "WPS in Afghanistan: Betrayal and Renewal," Australian Feminist Foreign Policy Coalition Issue Paper Series, Issue 4 (AFFPC, July 2022), p. 3.
[33] Human Right Watch, "Afghanistan: Women Protesters Detail Taliban Abuse."
[34] Mosadiq and others, "State of Human Rights Defenders in Afghanistan."
[35] United Nations High Commissioner for Refugees (UNHCR), *Afghanistan Situation Regional Response Plan (RRP) January - December 2022* (2022).
[36] The International Organization of Migration's Displacement Tracking Matrix offers a higher figure of 4.3 million internally displaced people within Afghanistan. See International Displacement Monitoring Center, "Figures Analysis 2021 - Afghanistan: Displacement associated with Conflict and Violence" (2022).
[37] This is likely a huge underestimate of the actual numbers within these countries, as many refugees remain unregistered.

راجسټر نه دي، ښايي شمېر يې تر دې ډېر زيات وي.[39,38]
د اټکل په اساس، د ۲۰۲۱م تر اګسټ وروسته يو اعشاريه اووه ويشت ميليونه افغانان بې کوره شوي دي چې ۲۳٪ يې ښځې او ۵۱٪ ماشومان دي.[40] د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنرۍ يا (UNHCR) د مالوماتو په اساس، د ۲۰۲۲م کال په اوږدو کې ۳،۵۸۰ تنه افغانان بېرته افغانستان ته ستانه شوي[41] او په دې سربېره ۱۶۲،۴۱۳ داخلي بې‌ځايه شوي افغانان بېرته په کور دننه خپلو مېنو ته ورګرځېدلي دي.[42]
که څه هم د کلتوري نزاکتونو په اساس، افغانې ښځې له ماشومانو او د کورنۍ له سرپرست پرته چېرې نه ځي، خو بيا هم په ۲۰۲۲م کال کې شاوخوا زر تنې افغانې مېرمنې په يوازې ځان ايران او پاکستان ته تللې. دې ته ورته په همدې موده کې له افغانستانه د تلليو څړه نارينه‌وو شمېر بيا ۱۰،۴۶۴ ته رسېږي.[43]

په ۲۰۲۲م کې د امريکا متحده ايالاتو د نارينه‌وو افغانانو په پرتله، له افغانستان څخه ښځې کمې ايستلې دي، ځکه د دوی لويه برخه هغه شرايط په اسانۍ نه شي پوره کولای چې ورباندې د متحده ايالاتو بشردوستانه وېزې تر لاسه کړي،[44] خو په عين حالت کې ښځې د نارينه‌وو په پرتله له تاوتريخوالي، استحصال، تبعيض، ناخونديتوب او ګڼ شمېر نورو ستونزو سره لا ډېرې مخ دي. له افغانستان څخه د ايستل شويو ښځو ځينې يې اوس په نورو هېوادونو کې پر مېشتېدنه اخته دي، خو پاتې يې لا هم په نيمه لاره کې ګڼې ستونزې ګالي.[46,45]
په دې سربېره، لا هم په افغانستان کې ګڼ شمېر د ښځو د حقونو مدافعانې پاتې دي چې د ښځو او نجونو پر وړاندې د ځانګړي تاوتريخوالي په ګډون، د ځورولو، له دوی څخه د ناوړه ګټه اخيستلو او حتا د طالبانو په لاس د مرګ له ګواښ سره مخ دي.
د دوی په ډله کې بيا په ځانګړې توګه هغه مېرمنې چې پاسپورټونه او دومره وس نه لري چې له افغانستانه پرې ووځي، تر نورو هم ډېر بتر حالت تېروي.[47]

---

[38] UNHCR Operational Data Portal, "Afghanistan Situation," available at: https://data.unhcr.org/en/situations/afghanistan (accessed 12 October 2022).

[39] These percentages are based on data gathered as of December 2021; see UNHCR, UNWomen and Women Count, *Afghanistan Crisis Update: Women and Girls in Displacement* (2022).

[40] UNHCR Regional Bureau for Asia and Pacific, "Afghanistan Situation Update - 01 September 2022" (2022). Available at: https://data.unhcr.org/en/documents/details/95823

[41] UNHCR Operational Data Portal, "Afghanistan Situation."

[42] UNHCR Regional Bureau for Asia and Pacific, "Afghanistan Situation Update."

[43] UNHCR, UNWomen and Women Count, *Afghanistan Crisis Update.*

[44] The Special Immigrant Visa (SIV) is provided by the U.S. for Afghans who were employed by or on behalf of the U.S. government. For more information, see https://travel.state.gov/content/travel/en/us-visas/immigrate/special-immg-visa-afghans-employed-us-gov.html

[45] Devon Cone, *"Now, There is Nothing Safe": A Roadmap for Investing in Afghan Women and Girls* (Washington, D.C., Refugees International, 2022).

[46] There are three contexts of displacement right now: 1) women and their families evacuated and resettled in countries with their asylum in process; 2) those evacuated and moved to a transit location that is not their country of asylum/resettlement but is a temporary host (i.e., Albania, Greece, Turkey, etc.); and 3) those in neighboring countries such as Iran and Pakistan. It is this last category where Afghan women are most vulnerable, as they are mostly undocumented, trying to find resettlement and sponsorship programs, and at a risk of deportation by governments.

[47] UNHCR, *Afghanistan Situation Regional Response Plan.*

په افغانستان کې د بندو پاتې مېرمنو له ډلې یې ځینې د دې وس نه لري چې له افغانستانه ووځي او ځینې نورې بیا همالته له ګڼ شمېر ستونزو، ننګونو او ګواښونو سره سره، په بېلابېلو سختو بڼو خپل ژوند او فعالیت ته ادامه ورکولو ته راضي شوې دي.

نړیوالې ټولنې په تېرو دوو لسیزو کې نه یوازې د دغو ښځو، مدني فعالانو، نادولتي موسسو او خبریالانو ملاتړ کاوه، بلکې د ښځو او بشر د حقونو لپاره ګمارلې هم دوی و، اما اوس یې تر شا پرې ایښي دي.[48] VOICE ته هم د ځینو نورو هغو ادارو په څېر چې د ښځو د حقونو په برخه کې کار کوي، هره ورځ له افغانستانه د ښځو زنګونه راځي چې هره یوه یې په تېر کې له ملګرو ملتونو، نړیوالو نادولتي موسسو او د متحده ایالاتو په څېر له بېلابېلو حکومتونو او سازمانونو سره د ګډ کار تجربې لري، خو اوس د طالبانو استبداد ته تنها پرېښوول شوې دي او دا مهال له دغو بنسټونو او نهادونو څخه ورسره هیڅ مرسته او همکاري نه کېږي.

د افغانستان پر ډېرى فعالانو او ښځینه ګروپونو باندې چې د ښځو د حقونو لپاره یې کار کاوه، نړیوال مالي ملاتړ درول شوی دی. سره له دې چې نړیواله ټولنه له افغانستان سره خپلو بشري مرستو ته دوام ورکوي، خو په دغه برخه کې تر ډېرې اندازې پورې د ښځو د حقونو برخه له اجنډا ایستل شوې. د ښځو د حقونو لپاره د نړیوال او پراختیایي ملاتړ کمېدل د ګڼ شمېر هغو سیمه‌ییزو بنسټونو د بندیدو لامل شوي چې د ښځو او نجونو لپاره یې کار کاوه او د نړیوالو په مالي ملاتړ چلېدل.

د دې تر څنګ د ۲۰۲۲م په مې میاشت کې د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي پروګرام چې یوازې نهه سلنه برخه یې د جنسیت په اساس د تاوتریخوالي له منځه وړلو ته ځانګړې شوې وه، د همدې کال تر اګسټ پورې یې فقط صفر اعشاریه درې فیصده مالي ملاتړ شوی دی.[49]
په ۲۰۲۲ کې یوه شوې څېړنه ښیې چې د ښځو د مدني ټولنې ۷۷٪ ادارې د همدې کال لپاره هیڅ پروژه نه لري او پاتې چې یې خپلو چارو ته دوام ورکوي، د نړیوالو مقرراتو د وضع کېدو له امله د مالي ملاتړ په تر لاسه کولو کې له ستونزو سره مخ دي.[50]

افغانې نجونې او مېرمنې له دې ټولو خطرونو، تشدد، ګواښ او نیول کېدو سره سره، لا هم خپلو مبارزو ته دوام ورکوي او په دې توګه اوس دغه نجونې یوازېنۍ سوله‌ییز او مدنی ځواک دی چې لا هم پر میدان پاتې دی او د طالبانو د جبر په مقابل کې مقاومت کوي.[51]

[48] Mosadiq and others, "State of Human Rights Defenders in Afghanistan."
[49] U.S. Policy Advocates for Afghan Women and Girls Working Group, *Futures in the Balance.*
[50] Gender in Humanitarian Action Working Group, *Research on Challenges, Barriers and Opportunities for Women-led CSOs in the Afghanistan's Humanitarian Crisis* (2022).
[51] Nargis Nehan, "The Rise and Fall of Women Rights in Afghanistan," *LSE Public Policy Review,* vol. 2, no. 3, p. 6 (2022).



دویم څپرکی

# د ارزيابي محتوا ته هراړخيزه کتنه

## الف- د VOICE په اړه

د ښځو، نجونو او د دوی په مشرۍ د بېلابېلو بنسټونو له خوا، د ښځو د ملاتړ يوه پرمختللې اداره ده چې د تدريجي تشدد پر وړاندې راپورته شوی نړیوال انقلاب نور هم ګړندی کوي. VOICE له ټولو هغو بشري سکټورونو چې د ښځو او نجونو د خونديتوب سينې يې ډبولې، غوښتنه کوي چې پر خپلو وعدو وفا وکړي او مرسته وکړي چې ښځې او نجونې د تدريجي تاوتريخوالي پر وړاندې راپورته شوی نړیوال انقلاب په خپله رهبري کړي.
موږ د ځينو ثابتو خو محدودو سرچينو په مټ، په بېړنيو بشري حالاتو کې، د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتريخوالي پر ضد مبارزه کوو او هغه دوديز او سنتي عوامل ننګوو چې د ښځو او نجونو پر ضد تشدد ته زمينه برابروي.

VOICE د ښځو د حقونو په رڼا کې د د دوی پر وړاندې د تاوتريخوالی د مخنيوي لپاره پر ځينو داسې ګټورو او اړينو لارو چارو کار کوي چې په مټ يې يوې داسې نړۍ ته ورسېږو چې له تاوتريخوالي پاکه وي او نجونې او ښځې پکې هم په خپله شاوخوا کې او هم د تصميم نيولو پر مېزونو درنښت ولري، د خپلو ستونزو او ننګونو حللارې جوړې او خپله يې عملي کړي.

په ټوله کې د VOICE موخه په مستقيمه توګه، په سيمه‌ييزه کچه د ښځو په مشرۍ ادارو ته سرچينې موندل او د تشدد پر وړاندې د دوی د حللارو په عملي کولو کې له دوی سره همکاري ده. VOICE د افغانستان په ګډون، په بنګله‌دېش، کولمبيا، هنګري، عراق، مالديو، برما، پاکستان، پولنډ، رومانيا، سلواکيا، لوېديز سوډان، سوريه، يوکراين، امريکا، وينزويلا او يمن کې د ښځو او نجونو په مشرۍ د دوی د ادارو، شبکو او خوځښتونو ننګه کوي.

## ب- د ارزونې موخې؛

VOICE در ماه اگست سال ۲۰۲۲، نهاد صدا ارزیابې را جهت برجسته نمودن تجارب و نیازهای زنان مدافع حقوق بشر افغانستان بعد از تصاحب طالبان در سال ۲۰۲۱ انجام داد. اهداف این ارزیابی از قرار ذیل بود:

- نړیوالې ټولنې ته د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د ښځو د بشري حقونو د افغانو مدافعانو خوندیتوب، اړتیاوې، حقونه او لومړیتوبونه ور په ګوته کول.
- د ښځو د لومړنیو اساسي حقونو خوندیتوب او دوی ته د کاري اسانتیا موندلو تر څنګ، یو داسې مناسب کاري چاپریال جوړول چې دوی پکې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي.
- بې ځایه شویو افغانو مېرمنو ته د دې زمینه برابرول چې له حکومتونو او نورو اړوندو مسوولینو سره، خپلې ورباندې تېرې تجربې شریکې کړي او په دې توګه د دوی خوندیتوب او ساتنې ته ګټورې تګلارې جوړې شي.

د VOICE دغه ارزونه د ۲۰۲۲م په لومړیو کې شوې ده[52] چې د ښځو د څرګندونو او ورباندې تېرو تجربو په ګډون، د دوی پر هېلو، ارمانونو، اړتیاوو او لومړیتوبونو تمرکز کوي. د دغې ارزونې موخه د حالاتو تر ښه کېدو، د بهیر چټکیا او د هغې بې انصافۍ ننګول دي چې دا مهال یې افغانې ښځې او نجونې ګالي.

## ج- تګلاره او کړنلاره

VOICE د خپلې بهترینې کاري ډلې او د ښځو د بشري حقونو له افغانو مدافعانو سره د خپلې تېرې راشه درشې په مټ واتوانېده چې د همدې افغانو مدافعانو او څېړونکیو یوه کاري ډله راټوله او پر دغه ارزیابۍ کار وکړي. VOICE د افغانو مېرمنو له سرخېلو سره د نړۍ په شلو هېوادونو کې د ځینو داسې مېتودونو په کارولو سره چې له ښځپالنې او خپلواکې سرچینې اخلي، پر دغه ارزیابۍ په ګډ کار وکړ. په دغه ارزونه کې ټولې پوښتنې په نادودیزه او خلاقانه توګه شوې دي او ټولې یې د دغو ښځو پر تجربو او حقایقو راڅرخېدې چې موخه یې د بشري حقونو د افغانو مدافعانو هوساینه او ارامي وه.

---

[52] This assessment builds on the work VOICE conducted in Albania earlier this year. From January to June, 2022, VOICE partnered with Vital Voices to build a comprehensive and feminist humanitarian response to the protection and VAWG needs of Afghan refugees, including many Afghan WHRDs, who were awaiting resettlement in Albania. VOICE worked collectively with implementing partners and refugee women and girls to engage them at different response levels and sectors at two refugee hosting sites. VOICE was able to build trust with the Afghan community and co-develop more dignified, better quality, and gender-sensitive services provided by implementing partners.

VOICE د ارزیابۍ پر مهال د افغانو ښځو پر څلورو ګروپونو تمرکز وکړ. یو یې هغه چې لا هم په افغانستان کې پاتې دي، بله ډله یې هغوی دي چې د افغانستان ګاونډیو هېوادونو ته کډوالې شوې، دریمه ډله یې په بېلابېلو هېوادونو کې هغه افغانې مېرمنې دي چې هلته پنا ورکول شوې او څلورمه یې بیا هغه ښځې دي چې لا هم په دریمو هېوادونو کې پر نیمه لاره پاتې دي.
په دې سربېره، په دې ارزیابۍ کې له بېلابېلو اړخونو، د موضوع د لاروښانتیا، مالوماتو راټولو او تحلیلولو لپاره ځینې بېلابېل مېتودونه په یوه وخت کارول شوي دي. په ارزیابۍ کې د وار له مخه جوړ شوي پلان او نقشې په اساس، پر مهمو مالوماتو ولاړې مرکې او هنري ورکشاپونه شامل ول او دغه مرکې او لیدنې بیا د زوم او وټس اپ په مرسته په بېلابېلو هېوادونو کې وشوې.
د ارزیابۍ په مرحله کې افغانې مېرمنې له بېلابېلو هېوادونو څخه راسره د خبرونکیو په توګه بوختې وساتل شوې او په دې سربېره VOICE د ښځو د حقونو له بېلابېلو سیمه‌ییزو ادارو سره په ګډه کار وکړ چې وممو، څنګه کولای شو دغه هڅې مو په ملي او نړیواله کچه، د یوه مثبت بدلون راوستو لپاره اغېزناکې ثابتې شي.

## مهمې مالوماتې مرکې

د VOICE خبرنیزې ډلې د ښځو د بشري حقونو له افغانو مدافعانو سره په افغانستان او د نړۍ په نولسو نورو هېوادونو؛ امریکا، اسټرالیا، برازیل، کاناډا، فنلنډ، فرانسې، المان، یونان، ایران، ایرلېنډ، ایټالیا، هالنډ، هسپانیا، سویډن، تاجکستان، ترکیې، عربي متحده اماراتو او پاکستان کې شپږ اتیا مهمې مرکې وکړې.
له دغو شپږ اتیا مرکو څخه ځینې یې د افغانستان په نهو ولایتونو بدخشان، بلخ، بامیان، هرات، کابل، کندهار، کندوز، ننګرهار او پکتیا کې شوې دي.

په دغه ارزیابۍ کې د پوښتل شویو ښځو عمرونه د اتلسو او شپېتو کالو تر منځ و چې پنځه تنې یې له اتلسو، تر څلوېښتو پورې، شپېته نورې مېرمنې له پنځه ویشتو څخه تر څلوېښتو او پاتې یوویشتو یې له یو څلوېښتو تر شپېتو کالو عمر درلود.
پوښتل شویو ټولو مېرمنو چې زیاته برخه یې هنرمندانې، فلم جوړوونکې، انځورګرانې، ژورنالیسټانې، ورزشکارانې، سیاستوالې، د تېر حکومت کارکوونکې، وکیلانې، قاضیانې، د ستري محکمې غړې، ډاکټرانې، ارواپوهانې، ښځو ته کار برابروونکې، د پوهنتونو محصلینې، استادانې، خبرونکې، مدني فعالانې او د نادولتي موسسو کارکوونکې او چلوونکې وې، د ښځو د حقونو او دوی ته د عدالت لپاره یې د پرېمانه کار تجربې درلودې.

## هنري ورکشاپونه

په مهمو مالوماتي مرکو سربېره، په واشنګټن او اسلام اباد کې دوه هنري ورکشاپونه هم جوړ کړل. د "Collaging Us Back Together" په نامه دغه ورکشاپونه یوازې د ارزیابۍ د یوه مهم رکن په توګه نه، بلکې د دې لپاره جوړ شول چې افغانې مېرمنې وتوانېږي، پر مټ یې خپلمنځي شبکې جوړې کړي او د عدالت او بدلون

لپاره لا همغږي شي. په دغو ورکشاپونو کې د دودیزو او تاریخي شرایطو په نظر کې نیولو سره، VOICE افغانو مېرمنو ته د زړه تشولو په موخه، د ورباندې تېرو کیسو بیانو ته هم ځای ورکړی و.

دغه ورکشاپونه چې لومړی یې د ۲۰۲۲م په لومړیو کې په البانیا کې جوړ شو، پکې په یوه شریکه تابلو کې د بېلابېلو انځورونو له اوډلو نیولې، د بېلابېلو خاطرو او کیسو تر کولو پورې؛ له بېلابېلو داسې لارو چارو ګټه اخیستل شوې چې له ګډونوالو مېرمنو سره یې له ټراما په خلاصون کې مرسته کوله او یوازې د دوی پر وضعیت یې تمرکز کاوه.
په ورکشاپونو کې له پاکستان څخه شپږو او له امریکا څخه د ښځو د بشري حقونو یوولس افغانو مدافعانو د تابلو جوړولو له لارې خپلې تجربې شریکې او په دې توګه یې د نړۍ په کچه دولتونو او تصمیم نیوونکیو ته خپل پیغام ورساوه.
د "Collaging Us Back Together" په نامه دغه ورکشاپ د افغانو مېرمنو له کیسو، خاطرو او ارمانونو څخه جوړ شوی. دغو ورکشاپونو د ښځو د بشري حقونو ملاتړو افغانو مېرمنو ته زمینه برابره کړه چې د خپلو اندونو او ضرورتونو په اساس، د عدالت غوښتنې غږ پورته او په دې توګه هغوی وننګوی چې د دوی د ترېتولو هڅې کوي.

# موندنې



په افغانستان له دننه او له دغه هېواده د باندې په تر سره شويو مرکو او ورکشاپونو کې درې اساسي موضوعات، تر نورو ډېر د پام وړ و؛

**الف-** د امنيت او خونديتوب اړوندې اندېښنې

**ب-** هغه ننګونې چې د مېشتېدو په بېلابېلو مرحلو کې دغه ښځې ورسره مخ دي او

**ج-** په اوسنيو شرايطو کې؛ فعاليت، خنډونه او امکانات.

موندنې ښيي چې د ښځو د بشري حقونو افغانې مدافعانې د امنيت، خونديتوب او ساتنې په برخو کې د جدي ګواښ په ګډون؛ پر دوی له لګول شويو محدوديتونو، د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتريخوالي له لوړو خطرونو، له بشري حقونو څخه د نورو سرغړونو، د روغتيايي خدمتونو، ارزانه کور، زده‌کړو او يوه دوامداره عايد په څېر له ډېرو نورو اړينو خدماتو څخه؛ هم په کور دننه او هم د باندې بې‌برخي دي. افغانو مېرمنو په خپلو مرکو کې ويلي دي چې له افغانستان څخه د غرب د پر شا کېدو په پروسه کې ناهمغږي، دوی د پروسې له پيله بيا تر اوسه پورې په پرله‌پسې توګه له ګڼو خطرونو سره مخ کړې دي. د موندنو په اساس، دا مهال د بشري حقونو دغه افغانې مدافعانې هم په افغانستان کې دننه، هم د باندې او هم په درېيمو هېوادونو کې پر نيمه لاره، د نړيوالې ټولنې د بې‌کفايتي له امله بېخي لومړنيو کومکونو ته اړې پاتې دي.

# الف- امنیت او خوندیتوب

په ارزیابۍ کې د امنیت او خوندیتوب اړوند څلور مهم موضوعات روښانه شوي دي.

**(۱)** په افغانستان کې د ننه د ښځو پر حقونو بندیزونه

**(۲)** پر ښځو او نجونو تشدد

**(۳)** شته خدماتو ته د ښځو او نجونو لاسرسی او


**(۴)** د نړیوالې ټولنې لاس په کار کېدل/ لاس تر زنې کښېناستل.

دغه موندنې لاندې په تفیصل بیانېږي.

## 1. په افغانستان کې د ښځو پر حقونو بندیزونه

فنلنډ، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"په افغانستان کې ښځې د زندان ژوند تېروي، نه يې څه له وسه پوره دي، نه څه ويلای شي."**



هسپانیا، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"ناامني، لوږه، فقر، تبعیض او د یوه مشروع نظام نه شتون، افغانستان څو لسیزې شا ته بیایي!"**

د ۲۰۲۱ میلادي کال له اګست راهیسې د افغانانو مېرمنو ټولې لاسته راوړنې چې په تېرو شلو کالو کې یې درلودې، له منځه تللې دي. هلته ښځې او نجونې له ښوونځیو راګرځول شوې دي، له دندو شړل شوې، له سیاست څخه ایستل شوې او حتا که کوم نارینه او یا محرم ورسره نه وي، له کوره نه شي وتلای.[53] په دې سربېره، ډېرې هغه پروژې چې د ښځو، سولې او امنیت په برخو کې یې کار کاوه، بندې شوې دی. د بشري حقونو افغانې مدافعانې وايي، په افغانستان کې دننه اوس د طالبانو له اجازې پرته هیڅ ډول سیاسي فعالیتونو ته اجازه نه شته.

افغانستان، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"مدني فعالیتونو بېخي کم شوي دي، که ووایم، له سلو صفر ته راغلي دي. د ښځو لپاره په شمار څو ادارو ځانونه ژوندي ساتلي، خو دا نه سم ویلای چې دوی به تر څو ځانونه همداسې وساتي؟"**

د افغانستان په نهو بېلابېلو ولایتونو کې چې VOICE پکې څېړنېزې مرکې کړې دي، د ښځو د بشري حقونو تقریبا ټولو افغانو مدافعانو ویلي دي چې د اندېښنو، بندیزونو او په ټوله کې د دغه روان وضعیت لمن پر ټول هېواد غوړېدلې ده.

ترکیه، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"نجونې له ښوونځیو را ګرځول شوې دي. ښځینه ملکي کارکوونکیو ته ویل شوي دي چې د ځانو پر ځای دې د کورنۍ کوم نارینه کار کولو ته راولېږي. ښځو ته له محرم پرته هیچېرې د تګ اجازه نه ورکول کېږي. دوی دا هر څه پر موږ د دین په نامه تپلي، اما موږ په اسلام کې د ښځو پر زده‌کړو، کار، تګ راتګ او سوداګرۍ کوم بندیز نه لرو."**

دغو بندیزونو د هغو ښځو پر اقتصاد لا ډېر ناوړه اغېز کړی چې وار له مخه له اقتصادي ستونزې سره مخ وې. ښځې او نجونې که کار و نه کړي، د کورنیو پر نارینه‌وو یې تکیه زیاتېږي چې دا په خپله کورني تاوتریخوالي ته زمینه برابروي.
په ترکیه کې د حکومت د دغې مخکېنۍ افغانې مامورې په خبره، هغه مېرمنې چې د کورنیو سرپرستۍ ور په غاړه ده، تر نورو ډېرې له ناوړه حالت سره مخ دي، ځکه دوی اوس د خپلو کورنیو د ساتلو لپاره هیڅ عاید نه لري.
*"موږ دوه میلیونه داسې ښځې درلودې چې د کورنیو سرپرستي ور په غاړه وه، هغوی اوس ټولې په کورونو کې زنداني کړل شوې دي او حالت ذاسې دی چې حتا د وچې ډوډۍ پیدا کولو وس هم نه لري."*

[53] A mahram is a male chaperone, typically a male family member. Zahra Nader and Nargis Amini, “The Taliban are Harming Afghan Women’s Health,” Foreign Policy, 2 March 2022.

افغانو مېرمنو په خپلو مرکو کې ویلي دي چې د طالبانو له خوا لګول شوي بندیزونه یوازې تر ښځینه جنیست نه محدودېږي، بلکې د هزاره، سیک، تاجک او ځینو نورو په څېر یې قومي لږکي هم له ګواښ سره مخ کړي دي. په تېره څه موده کې داعشیانو پر قومي لږکیو، د دوی پر ښوونځیو او جوماتونو باندې پرلپسې په خورا بېرحمي بریدونه وکړل، خو طالبانو نه چندان د دغو بریدونه مخه نیولې، نه یې چندان غبرګون ورباندې ښوولی دی.[54]

بریتانیا، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛
"*موږ نه شو ویلای چې ګواکې طالبان یوازې د ښځو ضد یو خوځښت دی، ځکه دوی په دې سربېره، د ځینو قومي لږکیو په له منځه وړلو هم اخته دي.*" د ښځو د بشري حقونو ۱۵٪ افغانو مدافعانو په خپلو مرکو کې ویلي دي چې دوی نه یوازې د جنسیت، بلکې د خپل قومیت له امله هم له جدي ګواښونو سره مخ دي او که خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي، لا له ډېرو جنجالونو سره مخ کېږي.

د ښځو د بشري حقونو یوې وتلې افغانې مدافع په خپلو څرګندونو کې د بېلګې په توګه د بامیان ولایت یادونه کړې چې څنګه هم اوس او هم په تېر حکومت کې د قوم او مذهب په اساس له تبعیض سره مخ و. په کندوز کې بیا د ښځو د بشري حقونو فعاله هلته له پښتنو پرته، د طالبانو له خوا د نورو قومونو په له منځه وړلو غږېدلې چې په خبره یې، دغې چارې تاجکې او ازبکې فعالانې اندېښمنې کړې دي.

بامیان، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"موږ همېشه د خپل ولایت د ښځې اساسي حقونو لپاره هم مبارزه کړې ده. طالبانو د هزاره‌ګانو په ډله‌ییزو وژنو سربېره، په افغانستان کې پرېمانه جرمونه کړي دي. په بامیانو کې خلک په رښتیا هم ډارېږي، ځکه هیڅ ساتونکی نه لري او ښځې بیا تر هر چا ډېرې زیانمنې دي."**

## 2. د ښځو او نجونو پر وړاندې زور زیاتی

داسې پرېمانه شواهد شته چې ښیي، په بېړنیو بشري حالاتو کې پر ښځو او نجونو تاوتریخوالي لوړېږي.[55] شوې مرکې جوتوي چې په ۲۰۲۱م کې د طالبانو لاس ته د افغانستان تر لوېدو وروسته؛ د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالی هماغسې زیات شوی، څنګه چې د طالبانو د تېر رژیم پر مهال لوړ تللی و.
د ملګرو ملتونو د ښځو د خانګې راپور وایي، په ۲۰۲۱م کې واک ته د طالبانو رسېدو د ژوند له بېلابېلو اړخونو ښځې اغېزمنې کړې چې یوه یې پر دوی د تشدد زیاتوالی دی او په عین حال کې دغه مېرمنې له تشدد څخه د خلاصون لپاره هم هیڅوک نه لري.[56]
د طالبانو د ورځ په ورځ زیاتېدونکیو بندیزو نو له امله ښځې د کورونو بندیوانې دي، د ډوډۍ موندلو وسیله یې له

---

[54] Human Right Watch, “Afghanistan: ISIS Group Targets Religious Minorities” 6 September 2022.
[55] For more information, see www.gbvguidelines.org
[56] UNWomen, “Gender Alert No. 1: Women’s Rights in Afghanistan: Where are we now? (2001).

لاسه ورکړي، له لومړنیو اړتیاوو بې برخې شوې، لوږه ورځ پر ورځ زیاتېږي او دې ټولو بیا په ګډه سره، ښځې پر دوی د تشدد له لوړ ګواښ سره مخ کړې دي.

د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانانې په خپلو څرګندونو کې د کورني تاوتریخوالي، په کم عمر او جبر د نجونو ورکړه او پر ښځو او نجونو د تشدد بېلابېلې نورې بېلګې یادوي. د طالبانو له خوا په لګول شویو بندیزونو کې تر ټولو جدي هغه یې چې د دوی په ټولو مرکو کې یې یادونه شوې، له محرم او نارینه پرته د ښځو پر تګ راتګ بندیز او د طالبانو له خوا د کورنیو نارینه هڅول چې پر خپلو ښځو جبر وکړي، لوی لامل بلل شوی چې دوی یې له جدي ګواښ سره مخ کړې دي.
ډېری افغانو مېرمنو په خپلو مرکو کې ویلي دي چې ورځ په ورځې زیاتېدونکې سختدریځي او د طالب پلوه احساساتو زیاتېدل د دې لامل شوي دي چې دوی حتا اوس په کور دننه هم ځانونه خوندي نه حس کوي.

افغانستان، ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛
**"که رښتیا درته ووایم، په خپله نه په ټولنه او نه هم په کور دننه ځان خوندي احساسوم. زه یې په سترګو وینم چې په خپله کورنۍ‌کې مې افراطیت وده کوي."**

ترکیه، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛
**"طالبان اصلا موږ ته د انسان په سترګه نه ګوري. دوی غواړي زموږ د سړیو د بېلاربې کولو او افراطیت ته هڅولو له لارې، موږ حتا په کور دننه کنټرول کړي."**

د افغانستان په شمال کې یوه روغتیايي کارکوونکې بیا په خپلو خبرو کې د بېلابېلو رواني ستونزو یادونه کوي چې په خبره یې، لاملونه یې کورنی تاوتریخوالی، بې‌ثباتي، د حقونو تر پښو لاندې کېدل، ژور خفګان، ځورول او ازارول دي. له افغانو مېرمنو سره شوې مرکې ښيي چې په ځینو ولایتونو کې لا هم ځینې ځینې اداري او د ښځو ځینې فعالانې پاتې دي چې په پټه د تشدد قربانیانو ته خوندیتوب ورکوي او غزیې تر یوه ځایه رسوي. ځینې نورې یې بیا په دې اخته دي چې څنګه د تشدد قربانیانو ته عدالت او د نورو پوهاوی پیدا کړي. د پکتیا په څېر په ځینو ولایتونو کې بیا دغسې پېښو ته رسېدنه د سر تر خطر کمه نه ده.

پکتیا، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛[57]
**"دلته د ښځو ملاتړ او ورته رسیدګي بېخي احتیاط غواړي... زموږ ډېری نارینه د حقانې شبکې ملاتړي دي."[57] طالبانو چې افغانستان ونیو، ښارونه په هدیرو بدل شول. زما په څېر فعالې ښځې حتا له ځانه هم وېرېدې، بېخي مو ځانونه په خطر کې بلل. غوښتل مو د یوې ارامې ساه اخیستلو لپاره وطن پرېږدو او هجرت وکړو."**

---

[57] The Haqqani Network is a Sunni Islamist militant organization that was founded by Jalaluddin Haqqani; Haqqani allied with the Taliban in the mid 1990s, with the alliance becoming firmly cemented in 2015.

ها خوا بیا له افغانستان ښځه د باندې، هغه مېرمنې چې په افغانستان کې د همدې تاوتریخوالي د زیاتېدو له امله له افغانستان څخه وتلې او ژوند یې خوندي شوی دی، خو لا هم د دوی پر ضد له تاوتریخوالي او جنیستي بېګانګي چندان خوندي نه دي پاتې.
په دې سربېره، په ځینو مرکو کې خو لا ویل شوي دي چې دغه مېرمنې، حتا له افغانستان څخه د دوی د راوتو په پروسه کې هم د تاوتریخوالي له بېلابېلو ګواښونو سره مخ وې.

تاجکستان، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"ښځې ایران، پاکستان او تاجکستان ته پر لاره له دوی څخه د ناوړه ګټې اخیستنې او ځورولو له لوړ ګواښ سره مخ کېږي."**

په دې کې شک نه شته چې په دغه بې‌ځایه کېدو، هجرت او بیرته ځای پر ځای کېدو کې ښځې او نجونې پر دوی د تشدد له لوړ ګواښ سره مخ دي. څېړنې ښيي چې د بې ځایه شویو او مهاجرو شویو ښځو له ډلې، شل سلنه یې په بشردوستانه چاپېریال کې له جنسي تاوتریخوالي سره مخ شوې دي. دا یوازې هغه پېښې دي چې راپور یې ورکول شوی، خو هغه پېښې چې خوله وربانديې پټه شوې، ښايي ډېرې زیاتې وي.[58]


په اروپا کې د کډوالو د اوسني وضعیت په اړه شوې یوه مطالعه د جنسیتي بېګانګي په اساس د تاوتریخوالي بېلابېل ډولونه رابرسېره کوي او دا روښانه کوي چې ښځې د ورپېښو شرایطو له امله، د کورني تاوتریخوالي په ګډون، له څنګه نورو ګواښونو سره مخ شوې.[59]

پر افغانو مېرمنو نه یوازې د بې کورۍ او بې ځایه کېدو پر مهال د ژوند د ملګري او د کورنیو د نورو غړیو له خوا د تاوتریخوالي کچه زیاته شوې، بلکې په همدې اندازه یې مرسته او ملاتړ هم له لاسه ورکړی دی.[60]

د ښځو د بشري حقونو بېلابېلو افغانو مدافعانو ویلي دي چې د افغانستان تر پولو او ډېورنډ د اوښتو پر مهال، چې طالبانو هم اوښتو ته نه پرېښودې، د تشدد له لوړ ګواښ سره مخ شوې دي.

## 3. شته خدماتو ته لاسرسی

لومړی چارټ؛ په افغانستان کې دننه د ښځو د بشري حقونو مدافعانو ته شته خدمات





[58] Alexander Vu et. al., “The Prevalence of Sexual Violence among Female Refugees in Complex Humanitarian Emergencies: a Systematic Review and Meta-analysis,” PLoS Curr. (18 March 2014).

[59] Jane Freedman, “Sexual and gender-based violence against refugee women: a hidden aspect of the refugee "crisis",” *Reproductive Health Matters,* vol. 24, no. 47, pp. 18-26 (2016).

[60] Katie Lauve-Moon and Regardt J. Ferreira, “An exploratory investigation: Post-disaster predictors of intimate partner violence,” *Clinical Social Work Journal*, vol. 45, no. 2, pp. 124–135 (2017).

دويم چارټ؛ د ښځو د بشري حقونو ملاتړو افغانو مېرمنو ته له افغانستانه د باندې شته خدمات




په شويو شپږ اتيا مرکو کې، په اووه ويشتو کې يې په افغانستان کې د ښځو لپاره پر شته خدماتو خبرې شوې او په پاتې درېنځوسو کې يې ښځې له افغانستانه د باندې، خدماتو ته پر لاسرسي غږېدلې دي.[61]

پورته ټکيو ته په کتو، دا تر ډېر روښانه ده چې خدماتو او اړين ملاتړ ته د لاسرسي په ګډون، مالي ملاتړ، امن کور، بشري مرستې، اروايي ډاډ، روغتيايي کومکونو، حقوقي مرستې او د مېشتېدنې په برخو کې شته امکاناتو ته په کتو، د هغو ښځو چې له افغانستان څخه راوتلې او هغوی چې لا هم هلته بندې پاتې دي، په وضعيت کې د اسمان او ځمکې هومره توپير دی. هغوی چې له افغانستانه را ايستل شوې، خو لا هم پر لاره او يا منزل ته رسېدلې او د مېشتېدنې په حال کې دي، د ژوندي پاتې کېدلو لومړنيو خدماتو ته لاسرسی لري، اما د ښځو د بشري حقونو هغه مدافعانې چې لا هم په افغانستان کې دي، يوازې د ګوتو په شمېر خدماتو ته لاسرسی لري.

د افغانستان په شمال کې يوه روغتيايي کارکوونکي وايي، سره له دې چې نړيواله ټولنه له افغانستان سره بشري مرستې کوي، اما ځينې ستونزې شته چې دغه مرستې په سمه توګه تر اړو کسانو نه رسېږي. *"دغه مرستې د کومې نادولتي او بې پرې اداري له خوا نه تنظمېږي، ځکه خو په سمه توګه تر مستحقو کسانو پورې نه رسېږي."* دا وايي، ډېرې مرستې يا بې ځايه لګول کېږي او يا هم د بډو او ناسم وېش له امله تر داسې ښځو پورې نه رسېږي چې هغوی اړتيا ورته لري.

[61] Six interviews had invalid responses to this question and consequently were not included in the above charts.

| | | |
|---|---|---|
| **په افغانستان کې د ښځو د بشري حقونو د مدافعانو له ډلې، تقریبا په څلورو کې یوازې یوه یې مالي ملاتړ، بشري مرستې او اروايي ډاډ ته رسیدګي لري، خو پاتې نورو یې حتا د امن له کوره نیولې، تر طبي مرستو او حقوقي ملاتړ پورې هیڅ هم نه دي تر لاسه کړې.[4]**<br>**که څه هم له افغانستان څخه وتلې افغانې مېرمنې له ګڼو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي، خو وضعیت یې نسبتا هغوی ته چې په افغانستان کې پاتې دي، ډېر ښه دی.**<br>**له دوی سره د شویو مرکو په اساس؛** | **۴۹٪** | د دوی ۴۹٪ مېرمنې مالي او حقوقي ملاتړ، تر نیمايي زیاتې |
| | **۵۷٪** | ۶۱٪ یې طبي مرستو، ۵۸٪ د مېشتېدنې په برخو کې همکاریو، |
| | **۳۸٪** | ۳۸٪ یې اروايي ډاډ او |
| | **۲۳٪** | ۳٪ یې بشري مرستو ته لاس‌رسی لري. |

له افغانستان څخه د ښځو د بشري حقونو ځینې وتلې فعالانې وايي، په مېشتېدنه کې ورسره د رسمي شبکو له خوا ملاتړ کم و، خو له دوی سره ډېر کمک د کورنیو هغو غړیو، ملګریو او شناخته‌ګانو کړی دی چې تر دوی له مخه په اړوندو هېوادونو کې ځای پر ځای شوي ول.
جرمني، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛
*"زه کمپ ته نه یم تللې، بلکې پنځه میاشتې مخکې دلته د خپلې یوې جرمنۍ ملګرې کره راغلم او لا هم دلته اوسم."*

برازیل ته تللې یوه بله افغانه بیا کیسه کوي چې څنګه یې لېور تر دوی مخکې هلته تللی او بیا د دوی تر راسېدو وروسته ورسره هغه څومره همکاري کړې ده. خو په پاکستان کې بیا د مهاجرو افغانو مېرمنو له لویې برخې سره، د نړۍ له بېلابېلو هېوادونو د ښځو د نارسمي شبکو له لارې په شخصي توګه کمکونه شوي دي.
دغو کسانو له افغانو مېرمنو سره د کور په پیدا کولو، سیم‌کارټ اخیستلو او په شخصي روغتونونو او کلینیکونو کې د دوی د درملنې په برخو کې مرستې کړې دي.

که څه هم هلته د ښځو د ملاتړ په برخه کې چندان رسمي شبکې او اداري نه‌شته، خو بیا هم په بېلابېلو برخو کې د VOICE له کارکوونکیو څخه د ملاتړ غوښتنې شوې دي. سره له دې چې د ښځو د ملاتړ نارسمي شبکې له کډوالو او پناه غوښتونکي سره په ځینو برخو کې ښه همکاري کولای شي، خو په پاکستان غوندې یوه هېواد کې چې هلته مدني ټولنې او د ښځو د بشري حقونو اړوندې اداري له ګڼو محدودیتونو سره مخ دي، له شخصي لارو چارو له کډوالو سره په مالي، اروايي، بشري او نورو برخو کې مرستې دغه ښځې له یوه بل لوی خطر سره مخ کولای شي.

## ولادي او لومړنیو روغتیايي اسانتیاوو ته لاسرسی

پر بشري حقونو د څار سازمان د ۲۰۲۱مېلادي کال تر اګسټ مخکې لا په خپل یوه راپور کې ویلي و چې په افغانستان کې ښځې او نجونې روغتیايي اسانتیاوو ته د لاسرسي په برخو کې له ستونزو سره مخ دي.[62]
**د VOICE له خوا په شویو مرکیو کې حتا یوې ښځې هم داسې نه دي ویلي چې حتا لومړنیو روغتیايي او ولادي روغتیايي اسانتیاوو ته لاسرسی لري.**

په افغانستان کې له نارینه او محرم پرته د ښځو پر تګ راتګ بندیز ښځې په روغتیايي برخه او سفرکولو کې له ګڼو سره مخ کړې دي. په دې سربېره، هلته ډېر زیات داسې کلتوري نزاکتونه هم شته چې ښځې حتا د خپل نارینه سرپرست په مخ کې، د خپلو ځینو ناروغیو او روغتیايي ستونزو یادونه په ډګه خوله نه شي کولای.
تر دې ورهاخوا د روغتیاپالانو کمښت یو بل سرخوږی دی چې نجونې او ښځې ورسره په روغتیايي برخو کې مخ دي. د روغتیا د نړیوال سازمان د راپور په اساس، افغانستان د طالبانو تر تسلط مخکې لا هم د ډاکټرانو او روغتیاپالانو له ګمښت سره مخ و.[63]
د دغه سازمان په خبره، په ۲۰۱۶م کې د افغانستان په ډاکټرانو کې یوازې ۲۲٪ او په نرسانو کې ۲۱٪ یې ښځې وې.[64]

په دې سربېره، د ښځو او نجونو پر زده‌کړو د طالبانو بندیزونو هم په روغتیايي برخه کې د ښځو ستونزې لا ډېرې کړې دي.[65]
د ورکولو شویو راپورونو په اساس، تر ۲۰۲۱م پورې په افغانستان کې د هرو لس زرو نفرو پر سر، یوازې ۴،۶ یې روغتیايي مختصصان ول، په داسې حال کې چې د روغتیا نړیوال سازمان د لسو زرو تنو لپاره لږ تر لږ د ۲۳ روغتیايي متخصصینو شتون د جدي بحران په توګه یاد کړی دی. د روغتیايي اسانتیاوو نه شون د دې لامل شوی چې افغانان د درملنې لپاره پاکستان، هند او نورو ګاونډیو هېوادونو ته لاړ شي.[66]

له افغانستانه د باندې بیا په شویو درپنځوسو مرکو کې، دردېرشو یې ویلي دي چې په اوسطه توګه ۶۲٪ روغتیايي اسانتیاوو ته لاسرسی لري، خو دغه اسانتیاوې هم چندانې بسنه نه کوي.

---

[62] Human Rights Watch, *"I Would Like Four Kids—If We Stay Alive": Women's Access to Health Care in Afghanistan* (2021).
[63] Human Rights Watch, *"I would Like Four Kids—If We Stay Alive."*
[64] The World Health Organization (WHO), "The Ministry of Public Health and UN partners call for greater efforts to step up gender equality," WHO Regional Office for the Eastern Mediterranean, 9 March 2016.
[65] Human Rights Watch, *"I would Like Four Kids—If We Stay Alive."*
[66] Human Rights Watch, *"I would Like Four Kids—If We Stay Alive."*

پاکستان، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"ژوند بېخي له منځه تللی دی. زما په رحم کې سیست دی او دا شپږ میاشتې کېږي چې میاشتنۍ عادت هم نه دی راغلی او سخت درد هم تېروم، اما درملنه نه شم کولای، ځکه وس او امکانات یې نه لرم."**

په امریکا کې د ښځو د حقونو یوه افغانه فعاله وايي، طبي مرستې دومره دي چې تر نه څه ښې دي؛

**"زه چې له افغانستانه راوتم، امېدواره وم. له کابله تر دوحې، بیا له هغه ځایه تر جرمني او بیا تر امریکا پورې دا ډېر اوږد سفر دی. موږ چې دوحې ته ورسېدو، ګرمي ډېره زیاته وه او هلته یې له زرګونو تنو سره په یوه هنګر کې ځای پر ځای کړو. زه څو ځله بې‌هوښه شوم او وینه هم راباندې ماته شوه. خلک به تشناب ته په کتار ولاړ ول، ځکه خو زه یو شواروز حتا تشناب ته نه لاړم. هلته ځینې روغتیاپالان ول، خو هغوی هغه وخت راورسېدل چې ما ډېر دردونه تېر کړي ول. کاشکې دوی امېدوارې مېرمنې له نورو ګوښې ساتلای."**

# اروايي درملنې او اروايي ډاډ ته لاسرسی

د افغانستان تر سقوط وروسته، د ښځو د بشري حقونو افغانې مدافعانې، هم په کور دننه او هم د باندې له شدیدو رواني ټکانونو سره مخ شوې دي. د VOICE په تقریبا ټولو مرکو کې همدې ټکي ته اشارې شوې او بېلګې یې، ژورخپګان، ابهام، نامېندي، وېروونکي خوبونه او په افغانستان کې د کورنیو د پاتې کسانو په اړه اندېښنې يادې شوې دي.

فرانسه، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"تر سقوط یو کال وروسته هم زه د کابل د پرېوتو د ورځو وېروونکي خوبونه وينم. کله کله خو ویده کېدای نه شم، په ځانګړې توګه په هغو شپو کې خو بېخي خوب نه راځي چې په کابل کې د کورنۍ پاتې کسان مې پر زړه را اوري.**
**فکر کوم له اروايي پلوه هیڅ افغان هم جوړ نه دی پاتې. عادي ژوند ته ګرځېدل بېخي سخت دي. په لومړیو دریو میاشتو کې خو نه ما څه خوړل او نه هم خوب راته، فقط ټولنیزې رسنۍ مې کتې او ورسره ژړل به مې."**

| | |
|---|---|
| **۳۵٪** | په ترسره شویو مرکو کې دېرشو ښځو ویلي دي چې ځینې یې په ژور خپګان او ځینې نورې په اندېښنو اخته دي. |
| **۱۹٪** | شپاړسو ښځو یې ویلي دي چې د راتلونکي په اړه تشویش لري. |
| **۱۴٪** | دوولسو مېرمنو د نامېندی، ابته کېدو او بې وسي یادونه کړې. |
| **۱۲٪** | لسو ښځو بیا په افغانستان کې د کورنیو د پاتې غړیو په اړه اندېښنې ښوولې |
| **۹٪** | اتو مېرمنو یې بیا بې خوبي او د وېروونکیو خوبونو له لیدلو سر ټکولی دی. |

د راټولو شویو مالوماتو په اساس، د افغانو مېرمنو د رواني ناارامي ۸٪ برخه یې د دوی د بې وسي او روانو چارو د درېدو له امله ده. ۶٪ یې په افغانستان کې پر نجونو او ښځو له راغلي وضعیت سره تړلې، ۵٪ د بې‌کوره کېدو او دوه فیصده بیا له دې امله ده چې ځینې یې له دې امله ښه حس نه کوي چې ګواکې خپلوان او خواخوږي یې په سخت حالت کې یوازې پرې ایښي. په شویو مرکو کې د بشري حقونو افغانې مدافعانې له دې ډېرې ځورېدې چې څنګه یې د ژوند چارې او پرمختګونه د سترګو په مخ کې له بېخه ونړېدل.

> افغانستان، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛
> **"ربښتیا دا ده چې هیڅ افغانه مېرمن له رواني ستونزو جوړه نه ده پاتې. له موږ سره دلته د یوه انسان په توګه نه، بلکې د نارینه د لاس د الې په توګه چلند کېږي. طالبانو زموږ ټول واک نارینه‌وو ته وسپاره."**

په تر سره شویو مرکو کې ۳۴٪ ګډون کوونکیو یې ویلي دي چې په ځینو برخو کې ټولنیز اروايي ډاډ او ملاتړ ته لاس رسی لري، خو حالت ته که وګورو، دغه فیصدي څه لوړه ښکاري.

په عین حالت کې د افغان مېرمنو دغسې څرګندونې ښايي د دوی د صبر او په کمه برخه د راضي کېدو له امله وي، څکه د ټولو مرکه کوونکیو له ډلې، یوازې څلورو مېرمنو چې د ټولو پوښتل شویو ښځو ۵٪ کېږي ویلي چې مسلکي‌اروایوه ته یې مراجعه کړې، یا یې درمل تر لاسه کړي دي.
شپږو نورو مېرمنو بیا ویلي دي چې کوم اروا پوه یې نه ده لیدلی او بده لا دا ده چې ځینو ته خو په لوی لاس ویل شوي دي چې له اروایوهانو سره دې نه وینې.

هالنډ، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"ما ته مې کېس‌ورکر وویل، چا ته داسې مه وایه چې اروايي ستونزې لرې یا په ژور خپګان اخته یې، ځکه بیا دې نه یوازې کرنټین کوي، بلکې خلک به درڅخه وېره ولري چې کوم جرم و نه کړې یا چا ته تاوان و نه رسوې. ما له همدې امله بې خوبۍ او ټراما وګالل. زما سر سلامت پاتې شو، خو له فزیکي او اروايي پلوه کړېږم."**

بېلابېلو مېرمنو په خپلو مرکو کې د رواني روغتیايي اسانتیاوو په اړه ویلي چې ښځي يې د دوی له کلتور سره اړخ نه لګاوه. ځینو یې د ژبې ستونزه یاده کړې چې له خپل اروايي طبیب سره یې په ژبه د نه پوهېدو له امله د باور ستونزه درلوده او ځینې خو یې د دغو روغتیا پالانو ځینې مشورې نه یوازې له کلتور سره په ټکر کې بولي، بلکې د کورني تاوتریخوالي د پېښو یو ګواښ یې بولي.

امریکا، د ښځو او ځوانانو د حقونو یوه افغانه ملاتړې؛

**"مشاور ما ته داسې مشورې راکولې، لکه زه چې یوه امریکايي نجلۍ یم. ماته وايي، د ډېټینګ (دراوی) اپلېکېشن ډاونلوډ کړه او بیا ملګري پیدا کړه. یوه افغانه کورنۍ ښځه که داسې وکړي، د کورنۍ د غړیو له خوا وژل کېږي. ځکه خو مې ښه به وبلله چې نوره بېخي ور نه شم."**

ځینې مېرمنې بیا د ځینو کسانو د چل او دوکې له امله له رواني ډاډ او همکارۍ څخه بېزاره شوې دي.

امریکا، د ښځو د بشري حقونو افغانه ملاتړې؛

**"هغې به هر وخت د مرستې لپاره ټېټر ډباوه، خو راته ویل به یې چې څوک باید خبر نه کړم. یوه ورځ یې اسناد راته ونیول چې لاسلیک یې کړم، خو ما چې ورته وویل صبر خاوند مې دا ورقې ولولې، فشار یې راباندې راوست چې باید لاسلیک وکړم. وروسته د دوی له دفتره زنګ راته ووهل شو چې ته دوه ځایه مالي ملاتړ تر لاسه کوې، خو ما چې وویل ما فقط یو ترون لاسلیک کړی، راته وویې ویل چې ته ژورخفګان لرې، له همدې امله دې له یاده وتلي. ځکه خو مې پرېکړه وکړه چې نور هیڅ ایجنسۍ ته نه وایم چې رواني مشاور ته اړتیا لرم، ځکه دا مې په یوه بل جنجال پسې اړوي."**

## امن کور ته لاسرسي

د ښځو د حقونو ډېری بې ځایه شوې افغانې مېرمنې بیا خپله اروايي ناقراري د دوی د اوسېدو په نامناسبو ځایونو پورې تړلې بولي. له نابلدو خلکو سره اوسېدل، پرله‌پسې د کمپونو بدلېدل او په میاشتو میاشتو په هوټلونو کې په دې تمه پاتې کېدل چې دایمي استوګنځي ته ورسېږي، هغه لاملونه دي چې دوی یې له اروايي پلوه الوېزانده کړې دي.

یوه حقوقي متخصصه چې دا مهال په کاناډا کې ده او اووه میاشتې یې د البانیا په یوه هوټل کې تېرې کړې دي وايي، دومره اوږده موده په هوټل کې له خلکو او ژونده لېرې پاتې کېدو په تشویش اخته کړې ده. دا او خاوند یې په داسې حال کې چې په کاناډا کې ځای پر ځای شوي هم دي، د میاشتې یوازې اوولس سوه کاناډایي ډالر حکومتي مرسته تر لاسه کوي، خو یوازې د کور کرایه یې دوه زره ډالر ورځخه اخیستل کېږي.

په پاتې نورو مرکو کې هم همدغو ټکیو ته اشارې شوې دي. که څه هم له افغانستانه د باندې په درېیمو هېوادونو او منزل ته تر رسېدو وروسته، ښځو ته امن کورونه برابر شوي دي، خو د دغو کورونو تر هوده وتل د افغان مېرمنو تر وس وتلې خبره ده، ځکه دوی داسې کار نه لري چې دومره عاید ولري چې د خپلو کورونو کرایې ورباندې په دوامداره توګه ورکړي.
په برازیل کې د ښځو د بشري حقونو یوه افغانه مدافع او ښوونکې د ښځو پر ملاتړو ادارو غږ کوي چې له دوی سره دې د کور او پنا په برخو کې کمک وکړي.
*"هو، د کور کرایه ډېره لوړه نه ده، خو که ته عاید و نه لرې، هر څومره ټیټه کرایه هم بیا لوړه ده."* کم عاید او د کورونو لوړې کرایې پر لاره او منزل ته د رسېدلیو دواړو ډلو افغانو مېرمنو شریکه ستونزه ده، ځکه دوی داسې ویزې نه لري چې د لوړ عاید کار ورباندې وکړي او که څه مرسته هم ورسره کېږي، هغه دومره نه ده چې ټولې میاشتنۍ اړتیاوې یې ورباندې پوره شي.

پاکستان، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"موږ وزګارې یوو او ویزې هم نه لرو، خو د کور کرایه باید ورکړو، له همدې امله خو کم‌خرڅې زموږ لپاره یو لوی سرخوږی دی. هغه هر څه ختم شول چې موږ یې پر جوړولو یو عمر لګولی و، اوس بیا بېرته په یوه نالیدلي هېواد کې له سره ژوند جوړول اسانه خبره نه ده."**

په ټوله کې د ژوند لپاره د یوه مناسب خوندي کور ساتل له هره حسابه د دغو ښځو تر وس وتلې خبره ده. د بېلګې په توګه، په پاکستان کې بې سرپرسته ښځې ته د کور په کرایه ورکول بند دي، که د کورنۍ سرپرسته ښځه وي هم، کور په کورایه نه شي نیولای. دا په خپله دغه مهاجرې ښځې له دوی څخه د ناوړه ګټه اخیستنې له ګڼو خطرونه سره مخ کوي. په پاکستان کې شویو مرکو په ډاګه کړه چې افغانې مېرمنې حتا اړې شوې دي چې د ځان د ساتنې په موخه څو چنده لوړې کرایې ورکړي.

هلته په افغانستان کې بیا؛ لکه مخکې چې مو هم وویل، د طالبانو تر راتګ وروسته، د ښځو د حقونو مدافعانې له خپلو کورونو بې ځایه شوې او تر اوسه له دې وېرې چې طالبانو به یې د تېرو کارنامو او فعالیتونو پل ورپسې رااخیستی وي، پټې ګرځي.
له دوی سره د مرستو لارې بیا په نیمه لاره کې تر پاتې افغانو مېرمنو هم، څو چنده ډېرې کمې دي، ځکه هلته کومه سیمه‌ییزه یا نړیواله نادولتي داسې اداره نه‌شته چې دوی د امن کور لپاره مراجعه ورته وکړي.

په افغانستان کې په شویو اووه‌ویشتو مرکو کې شپږو تنو مرکه کوونکیو ویلي چې دوی په خپلو ولایتونو کې ولسوالۍ په ولسوالۍ او کلي په کلي ځایونه سره بدل کړي دي.
دریالسو تنو یې ولایتونه بدل کړي چې اکثریت یې کابل ته راغلې دي.
ځینې ښځې خو حتا څو اوونۍ او میاشتې وروسته ایله خپلو کورو ته ورګرځېدلې دي. اته تنې یې داسې دي چې دومره توان یې نه درلود چې مېنه بدله کړي، یا په عامه اصطلاح د ورتګ ځای یې نه درلود.

## کار او روزګار ته لاسرسي

د ښځو د بشري حقونو د بې ځایه شویو افغانو فعالانو له ډلې ډېریو یې ویلي دي چې د کور ساتل، یوې دوامدارې دندې او عاید ته ضرورت لري چې باید دوی یې نویو ورغلیو هېوادونو ته تر ورتګ وروسته ولري. په عین حال کې د دندې په مخ کې له قانوني محدودیتونو نیولې، د ژبې تر ستونزو او د کوربه هېواد له خوا د دغو افغانو مېرمنو مخکېنۍ کاري تجربې په رسمیت تر نه پېژندلو پورې نورې هم ډېرې ستونزې او خنډونه په مخ کې پراته دي.

ایران، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"زه دلته راغلم چې یو نوی ژوند پیل کړم، اما دلته د کار کولو هیڅ امکانات نه‌شته، دوی د چا پوهې او وړتیا ته په هیڅ سترګه نه ګوري. موږ ته دلته یوازې خیاطي او یا درانه کارونه راپاتې دي."**

د هغو افغانو فعالانو له ډلې چې مرکې یې راسره کړې دي، ډېریو یې ویلي دي چې دوی سره له دې چې لوړ تحصلي اسناد او پرېمانه کاري تجربې لري، خو د قانون په اساس نه شي کولای دندو ته ځانونه ثبت کړي او همدې چارې مایوسه کړې دي، ځکه چېرې ته چې د کار فرصت شته، هغه بیا د دوی له کاري تجربې او تحصلي اسنادو سره سر نه خوري. شوې مرکې په ډاګه کوي چې د دغو افغانو مېرمنو لپاره یو تر ټولو اساسي ټکی دا دی چې څنګه د کوربه هېواد د ښځو د ملاتړ شبکې او ادارې له دوی سره د دوی د فعالیتونو او کار د دوام په برخو کې کمک وکړي. کاناډا، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛ *"که د کار، زده‌کړو او د زده‌کړو د لګښت کمک و نه شي، د افغانو ښځینه فعالانو د ژوند ټولې خوارۍ اوبو وړې بوله."*

# 4. د نړیوالې ټولنې "ناراستي"

امریکا، د ښځو د بشري حقونو افغانه ملاتړې؛

**"فکر کوم افغانې مېرمنې د نړۍ پر مخ تر ټولو بې‌کسه ښځې دي چې نړیوالې ټولنې هم اوس په یوه ناوړه وضعیت کې بې اسرې پرې ایښې دي."**



د ښځو د بشري حقونو افغانو ملاترو په خپلو مرکو کې له طالبانو سره له معاملې نیولې، له صحنې څخه د ښځو تر حذف پورې، ځینو داسې ټکیو ته اشاره کړې ده چې نړیوالې ټولنې له دغو ښځو سره پکې ناراستي کړې ده.

افغان ښځینه فعالانو په خپلو مرکو کې له دوی سره کېدونکې بشري مرستې دومره کمې بللې دي چې په خبره یې، نه په افغانستان کې د پاتې ښځو درد دوا کولای شي، نه د هغو ښځو چندان په درد خوري چې له افغانستانه وتلې دي.

په دوو مرکو کې خو څرګند ویل شوي دي چې په افغانستان کې بشري مرستې د طالبانو په واک دې. ځینو بیا د مرستو په وېش کې د توپیر یادونه کړې چې په خبره یې، مرستندویه موسسې یوازې پر لویو ولایتونو تمرکز کوي او واړه ولایتونه او لېرې پرتې سیمې یې له یاده وتلې دي.

د تېر حکومت د یوه وزارت کارکوونکې چې دا مهال په امریکا کې مېشته ده، وايي، د دې حالت جبرانول په مودو مودو کار غواړي چې ببرته عادي شي او له نړیوالې ټولنې اوس د دومره کار تمه نه لري. دا وايي، د نړیوالې ټولنې دومره اوږدمهالې ښکېلتیا اوس د یوه خوب لیدل دي، ځکه ډېری افغانې مېرمنې په دې باور دي چې نړیوالې ټولنې هېرې او تر شا پرې ایښې دي.

ګڼ شمېر هغه نادولتي‌اداري چې د ښځو د حقونو او دوی ته د عدالت لپاره یې کار کاوه، د طالبانو تر راتګ وروسته تري تم شوې دي او دې کار هلته پر سیمه‌ییزو او محلي ادارو د پام وړ ناوړه اغېز کړی دی.

د افغانستان په شمال کې د ښځو د بشري حقونو ملاترې افغانه؛

**"د طالبانو تر بیا راتګ وروسته، ډېری کورنیو او نړیوالو نادولتي ادارو چې وړاندې یې د ښځو د ملاتړ او پیاوړتیا لپاره کار کاوه، په افغانستان کې خپلې چارې پارچاوې کړې او دا د دې لامل شو چې زموږ لاس یې را لنډ کړی او اوس تر زیانمنو شویو ښځو نه رسېږي."**

په ترکیه کې د ښځو د بشري حقونو یوه مدافع افغانه وايي، داسې حس کوي لکه نړۍ چې له افغانو مېرمنو مخ

اړولی وي.
دا په دغه برخه کې د نړیوالې ټولنې اوسنیو چارو ته په اوبو کې د لوټې ایښودو او تېرېدو په سترګه ګوري.

**"د افغانو مېرمنو اوسنۍ وضعیت ته په کتو چندان تمه نه کېږي چې څه دي وشي. نړۍ به په داسې بابېزه او یک‌بار مصرف پروژو هیڅ‌هم بدل نه کړای شي. موږ له سیاسي لارو په افغانستان کې یوه پراخ بدلون ته اړتیا لرو، خو دا بدلون موږ په یوازې ځان نه شو راوستلای. زه هیله لرم چې نړۍ باید خپلې تېروتنې ومني، زموږ انعطاف ته په درنه سترګه وګوري، زموږ مجبوري درک کړي او د دایمي ثبات به برخه کې پر موږ ننګ وکړي"**

د بشري حقونو ځینو افغانو مدافعانو بیا په خپلو مرکو کې د یوکراین جګړه د دې لامل بللې ده چې له افغانستان څخه یې د نړۍ پام اړولی دی.
د افغانستان په شمال کې د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛
*"په افغانستان کې خلک په ډېر ناوړه حالت کې ژوند تېروي، خو له کومې ورځې چې په یوکراین کې جګړه پیل شوې، نړۍ له افغانستانه پام اړولی دی."*
هالنډ، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛
*"مه پرېږدئ چې د یوکراین جګړه پر افغانستان هم سیوری وغوړي. ښځې په دواړو هېوادونو کې یو ډول ښځې دي."*
د افغانستان او یوکراین پېښو ته د رسنیو نااندېوله انعکاس او غرب ته د توکم په اساس اهمیت ورکول، یو بام او دوه داسې مختلفې هواوې دي چې له دغو دواړو هېوادونو سره په مرستو کې یې د افغانستان پر برخه ناوړه اغېز کړی دی او له همدې امله د ناټو او امریکا لپاره اوس افغانستان حاشیې ته تللی دی.

په ټوله کې په شویو مرکو کې د بشري حقونو افغانو ملاتړو مېرمنو له نړیوالې ټولنې څخه دوه شیان غوښتي دي؛ یو دا چې د طالبانو اوسنۍ رژیم دې په رسمیت نه پېژني او نه دې ورسره راشه درشه کوي او دویم دا چې د دوی د حقونو د ساتنې او بېرته تر لاسه کوولو لپاره دې، د دوی وړاندیزونو ته غوږ ونیسي.

## "هیڅوک دې طالبان په رسمیت نه پېژني"

د بشري حقونو هغه افغانې مدافعانې چې VOICE ورسره مرکې کړې دي، تقریبا ټولو یې نړیوالې ټولنې او حکومتونو ته زارۍ‌کړې دي چې طالبان دې د افغانستان د حکومت په توګه په رسمیت په نه پېژني.
د د ښځو د بشري حقونو یوه ترکیه مېشتې افغانه ملاتړې وایي، دا مهال طالبانو درست وطن او خلک برمته نیولي دي او پر نړیواله ټولنه هم غږ کوي چې طالبانو ته دې د برمته‌کوونکیو په سترګه وګوري.

**"زه دې ته زړه خورم چې هیڅوک هم له افغانو مېرمنو سره له زړه مرسته نه کوي. موږ نور له دې تشو خبرو او هوايي وعدو ستړې شوې یوو. موږ عملي اقدام ته په تمه یوو، د ناټو په تړون کې څه ویل شوي دي چې که د دغه سازمان یو متحد د ټرویستانو له خوا برمته شي، د غړیو هېوادونو مسوولیت څه دی؟"**

په بېلابېلو مرکو کې پر نړیواله ټولنه غږ شوی دی چې مسوولیتونه درک کړي او نه یوازې دا چې طالبان دې په رسمیت نه پېژني، بلکې فشار دې وربانديې راوړي چې د ښځو حقونو ته احترام وکړي، د نجونو ښوونځي پرانېزي او ښځو ته د کار، تګ راتګ، ازادي او حقونو د خونديتوب ضمانت دې ورځخه واخلي.

تاجکستان، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"نړیواله ټولنه باید دا درک کړي چې د افغانو مېرمنو په هېرولو سره یې تېروتنه کړې ده او اوس باید د یوې سیاسي حل لارې لټولو له لارې، د دغو مېرمنو لاسنیوی وکړي."**

## "افغانو مېرمنو ته غوږ سئ"

که څه هم د VOICE له خوا په شویو مرکو کې له چا څخه په مستقیمه توګه نه دي پوښتل شوي چې نړیوالې ټولنې ورسره، د دوی په اړه د خپلو چارو په تنظیم او عملي کولو کې سلاوې کړې که نه، خو نږدې ۱۵٪ مرکه کوونکیو په زغرده ویلي دي چې د خدماتو د رسوونکیو، کورنیو او نړیوالو نادولتي‌ادارو د مقاماتو په ګډون ورسره، تر اوسه هیچا د مشورې لپاره اړیکه نه ده نیولې او نه یې هم چا مشورو ته چندان اهمیت ورکړی دی.
په مرکو کې پوښتل شوې ټولې افغانې مېرمنې پر دې یوه خوله وې چې د ښځو د ستونزو د حل لپاره باید هغوی واورېدلې شي، نه دا چې نړیوال ښاغلي د دوی پر ځای غږېږي.

په دوی کې ځینو یې پر دې ټینګار کاوه چې په افغانستان کې د ننه پاتې ښځو غږ باید واورېدل شي، څکه هغوی پر خپلو ستونزو او د هغو پر حل لارو تر هر چا ښې پوهېږي.
امریکا، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛
*"په افغانستان کې پاتې ښځې باید وواېي چې روان بحران په کومو برخو کې ډېرې ځپلې دي او څنګه باید رسیدګي ورته وشي."*

ځینو بیا په خپلو مرکو کې ویلي دي چې نړیوال بنسټونه دې یوازې د دوی تش نظر نه پوښتي، بلکې د هغو چارو د سر ته رسېدو پوښتنې ته دې هم ځواب وواېي چې دوی یې وعدې ورکړې وې.
د د ښځو د بشري حقونو یوه افغانه ملاتړې چې لا هم په افغانستان کې ده واېي، یو ځل یې نظر پوښتل شوی دی، خو واېي، هغه هسې د اوبو جوړا وه.

**"ما څو واره  له ملګرو ملتونو او د افغانستان لپاره د دوی د مرستندویه پلاوي له دفترونو سره په دې اړه ناستې درلودې. دوی زموږ خبرې واورېدې، خو په عمل کې یې زموږ ملاتړ و نه کړ. زموږ د ادارې په څېر سیمه‌ییزې ادارې پر خپلو مټو تکیه دي او کله یې له چا مالي ملاتړ نه دی تر لاسه کړی، حتا دوی خو زموږ د کارکوونکیو په خوندیتوب کې هم هیڅ نه دي کړی. بس هسې د اوړو پوزه ځان ته زدي."**

د ښځو د بشري حقونو له افغانو ملاتړو سره چې په هر ځای کې مرکې شوې دي، ټولې پر دې راضي دي چې نړیواله ټولنه او کوربه هېوادونه دې ورسره د چارو د لا ښه والي په موخه مشورې وکړي. دغه ښځې کولای شي په سیاسي برخه کې د ګډون له لارې پر طالبانو فشار زیات کړي. دوی د افغانستان پر وضعیت تر نورو ښې پوهېږي او هلته د دوی طبیعي تجربې کولای شي پر تګلارو، کړنلارو او د پروګرامونو پر عملي کېدو مثبت اغېز وکړي.

د افغانستان په شمال کې د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"موږ ته غوږ ونیسئ، له موږ او زموږ له هغو ادارو او بنسټونو سره چې په تېرو شلو کالو کې مو جوړ کړي دي، د مشورې له لارې د ښځو همغږي ته زمینه برابره کړئ. تاسې زموږ کار مه کوئ، بلکې موږ پرېږدئ چې خپل ځېرې ګرېوانونه په خپله وګنډو."**

# ب. بیا مېشتېدنه

له موږ سره مرکو ته د حاضرو شویو افغانو مېرمنو لویه برخه په بېلابېلو هېوادونو کې تر بې‌کوري وروسته د مېشتېدنې په برخه کې له ګڼو ګواښونو سره مخ دي، حتا د ځینو خو دا په ژوند کې دویم وار دې چې له خپله وطنه ورکېږي.

د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"طالبانو چې په ۱۹۹۶ کې په لومړي ځل افغانستان لاندې کړ او موږ پاکستان ته په تګ مجبوره شوو، موږ هیڅ هم له ځان سره یوو نه وړل. ما لیدل چې مور مې د کور په جوړولو سختې ورځې وګاللې. وروسته موږ بېرته کابل ته راغلو او ژوند مو یو ځل بیا له صفره پیل کړ. ما مې تر واده وروسته ژوند له سره د خپل ځان لپاره جوړ کړ او اوس دا دی بېرته تر شا راڅخه پاتې شو، زه ایله اوس پوهېږم چې مور مې د تېر مهاجرت پر مهال څنګه سختۍ ګاللې."**

د ښځو د بشري حقونو افغانې ملاتړې په خپلو مرکو کې له افغانستانه د وتلو پر ترخو تجربو، د بیا مېشتېدنې په برخه کې د همکاریو او ملاتړ پر نه شتون، په یوه مبهم حالت کې په میاشتې میاشتې تېرولو او د لارې په اوږدو کې په بېلابېلو هېوادونو کې د ورسره شوي تبعض او توکم‌پالنې په اړه غږېدلې دي.

## 1. له افغانستانه تر وتلو وروسته ناخوالې

که څه هم متحده ایالاتو د ۲۰۲۱مېلادي کال سپټامبر میاشت له افغانستان څخه د وتلو نېټه ټاکلې وه، خو تر دغه نېټه مخکې طالبانو ته د اګسټ پر پنځلسمه ده کابل عاجلانه پرېښوولو، نه یوازې ګډوډي، سرګرداني او وېره خپره کړه، بلکې زرګونه تنه یې دې ته اړ کړل چې یوازې د څو ورځو په اوږدو کې له افغانستانه ووځي.
که څه هم افغان خبریالان، د نړیوالو ادارو کارکوونکي او د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانې مېرمنې د هغو کسانو په نوملړ کې وې چې له لوړ ګواښ سره مخ دي او باید له افغانستان څخه و ایستل شي، اما هوايي ډګر ته ننوتل او له هغه ځایه له افغانستانه وتل یې یوازېنۍ لاره وه او تر میدانه پورې د رسېدو او ننوتو په برخه کې د د احتمالي اړتیاوو او ګواښونو ارزونه ښخې شوې نه وه.[67]
بېلابېلو مرکه کوونکیو مېرمنو په خپلو څرګندونو کې داسې ښوولې ده چې له افغانستان څخه د وتلو په برخه کې له یوې سرګردانوونکې او ناپلان شوې پروسې سره مخ وې.
مثلا د خپلوي او خېښې په اساس خلکو ته لومړیتوب ورکول کېده چې هوايي ډګر ته ننوځي او همدې کار ګڼ شمېر له جدي خطر سره مخ ښځې، لا نورې هم له ګواښ سره مخ کړې وې، مګر ډېرو کسانو یوازې له دې امله چې اړیکې یې درلودې او په هوايي ډګر کې دننه یې کسان پېژندل، په لومړیو کې شېبو کې لا هوايي ډګر ته لاره موندله.[68]

پاکستان، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"طالبانو چې واک ونیو، هر چا هڅه کوله چې له افغانستانه ووځي، ډېر مړه شول، ځینې له الوتکو ولوېدل. د ټولو همدا یوه هیله وه چې له افغانستانه ووځي او د طالبانو له شره ځان وساتي، مګر څنې بریالي شول او ځینې مړه."**

[67] Mosadiq and others, “State of Human Rights Defenders in Afghanistan.”
[68] Mosadiq and others, “State of Human Rights Defenders in Afghanistan.”



د ښځو د بشري حقونو افغانو ملاتړو مېرمنو په خپلو مرکو کې په کابل هوايي ډاګر کې د سرتېرو او پرسونل له خوا له دوی سره له نامناسبه چلنده نیولې، پر لاره په کمپونو او نظامي مرکزونو کې له دوی سره تر شوي ناوړه چلنده، بیا د مېشتېدنې په پروسه کې د دوی د حقوقي چارو د پر مخ وړونکیو له خوا کلتوري ارزښتونو ته تر نه درناوي پورې، په بېلابېلو نورو برخو کې د ناوړه چلند شکایتونه کړي دي.

امریکا، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"هیڅ نه غوښتل چې په دې توګه تر امریکا ځان را ورسوي، یا یې دغسې سپکاوی وشي. هغه چلند چې په کمپونو کې یې له موږ سره کاوه، ډېر ناوړه و، فقط لکه موږ چې سوالګر یوو. کله به مو هم هغه حالت هېر نه شي چې پر موږ د کابل پر هوايي ډګر تېر شو. که دوی له زړغوښتای، دا حالت یې سمولای هم سوای."**

ډېری هغه مېرمنې چې کورنۍ یې په افغانستان کې ورځځه پاتې شوې دي، د کورنۍ غړیو ته اندېښنو له رواني ستونزو سره مخ کړې دي. دغسې مېرمنې فقط دومره توانېدلې دي چې د کورنۍ له یوه یا دوو غړیو سره له افغانستانه ووځي، ځکه د کورنیو نورو غړیو یې داسې اسناد نه درلود چې پرې وتلې وای او ځینې خو یې بیا له دې امله چې د کورنیو غړي یې هلته نه سوای پرېښوولای، هماالته پاتې دي.

کاناډا، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"ما ته چې له وطنه د وتلو وویل شول، ما له ځان سره د نه وتو پرېکړه وکړه، ځکه خور مې له ګوانښ سره مخ وه او ما یوازې هلته نه سوای پرېښوولای."**

دغه خبریاله بالاخره له خپلې کورنۍ سره یو ځای له افغانستان ایستل شوې ده.



## 2. د بیا مېشتېدنې په برخه کې مرستې

د بیا مېشتېدنې په برخه کې د مرستو د رسېدو په اړه ورکول شوي راپورونه له هغه حالت سره لوی توپیر لري چې د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانانې یې کیسې کوي. د بېلګې په توګه، ۵۸٪ فعالانې وايي چې دوی له افغانستانه د وتو په لومړیو مرحلو کې مرسته تر لاسه کړې، اما ۴۲٪ بیا وايي چې نه یې پر لاره په دریېمو هېوادونو او نه هم په کوربه هېواد کې د مېشتنېدنې په برخه کې کومه مرسته لیدلې ده.[69]

په پاکستان کې د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانانې چې مرکې ورسره شوې دي، ټولو یې ویلي دي چې هیڅ حکومت یا ادارې ورته د مرستې وړاندیز نه دی کړی.
د افغانستان تر سقوط وروسته پاکستان نه یوازې دا چې افغان کډوالو ته یې خپله غېږه نه پرانیسته، بلکې هغه افغانان یې هم بېرته خپل هېواد ته وشړل چې د طالبانو د راتګ له لاسه پاکستان ته مهاجر کېدل.
هلته د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري یا یواین‌ایچ‌سي‌ار ته یوازې د هغو افغانانو د راجسټرېشن اجازه ورکول شوې چې صحي او یا د کار کولو پخوانۍ وېزې ولري. هلته یواین‌ایچ‌سي‌ار د ۲۰۲۲م په فبرورۍ کې یوازې هغو افغانانو ته د مهاجرت کارتونه ورکول پیل کړل چې د طالبانو تر راتګ وړاندې یې هلته ځانونه راجسټر کړي ول.[70]

---

[69] These percentages are detailed in Chart 2 under “A: Safety and Security” above.
[70] European Union Agency of Asylum, *Pakistan – Situation of Afghan refugees: Country of Origin Information Report* (Luxembourg, 2022).

هلته یوازې څو پاکستانیو ادارو د دې اجازه درلوده چې له کډوالو سره مرستې وکړي.
د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانانې وایي، د همدې سختو شرایطو له امله هیڅ ورسره د مرستې هڅه نه ده کړې. پاکستان ته د ښځو د بشري حقونو تللې ملاتړې افغانې مېرمنې وایي، نه شي کولای روغتیایي اسانتیاوې، ښوونځی او کار پیدا کړي، ځکه دوی نه راجسټر شوې دي او نه د پاکستان په کمپونو کې اوسي.

پاکستان، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"له یواین‌ایچ‌سي‌ار څخه تمه کېده چې کډوالو ته د مهاجرت کارتونه ورکړي، خو هیڅ افغان کډوال ته کوم کارت نه دی ورکول شوی. زه تر دوو میاشتو هڅو وروسته وتوانېدم چې د یواین‌ایچ‌سي‌ار له استازو سره ووینم، دوی راته ځینې پاڼې راکړې چې لاسلیک یې کړم، ما چې د ترجمان غوښتنه وکړه، و یې نه منله، اخیر مجبوره شوم هغه پاڼې چې نه وربانديږ پوهېدم لاسلیک مې کړې، خو تر اوسه مې هم نه کارت تر لاسه کړی، نه کومه مرسته."**

## 3. د مېشتېدنې ګونګه پروسه

ډېری هغه افغانې مېرمنې چې VOICE ورسره مرکې کړې دي، لا هم پر نیمه لاره، په درېیمو هېوادونو کې، منزل ته د رسېدو او هلته د مېشتېدو په تمه شپې سبا کوي. دوی په دغه برزخي حالت کې له کړاوونو سره د مخ ژوند او له مالي ملاتړ پرته د یوې اوږدې سرګردانه دورې ستونزې بیان کړې دي.

عربي متحده امارات، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"موږ په ابوظبي کې له سیمه‌ییزو او نړیوالو ادارو څخه هېرې شوې یوو. زما په باور له رواني پروسې څخه دغسې په بې خبرۍ کې د برزخ ژوند، خپله یو عذاب دی. زه تر اوسه پورې زما د خپل حالت په اړه چې تېروم یې چا نه یم پوښتلې. له ربښتیني ژوند او ټولنې څخه زما اړیکې بېخي غوڅې شوې دي."**

ځینو افغان مېرمنو بیا په خپلو مرکو کې اندېښنه ښوولې ده چې که پنا ور نه کړل شي، ژوند به یې ځومره له خطر سره مخ وي.
امریکا، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛
*"که ما ته پنا را نه کړي او مجبوره شم چې بېرته افغانستان ته لاړه شم، بیا هر څه له سره پرېږدم؟ زه نوره بېخي ستړې یم."*

د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانانې چې پاکستان ته تللې، د بیا مېشتېدنې په پروسه کې له ګڼو ستونزو سره مخ دي. هلته د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ یا یواین‌ایچ‌سي‌ار د ناغېرې او په کار کې ځنډ له امله د ډېرو دغو مېرمنو ویزې او پاسپورټونه تر وخت تېر شوي دي. دغه ښځې چې د پاسپورټ د تمدیدولو لپاره اړوندو ادارو ته ورغلې، په بدل کې یې ورڅخه د څلور سوه امریکایي ډالرو غوښتنه کړې چې د ډېرو له وسه وتلې

خبره ده.
په دې سربېره، د بیا مېشتېدنې په پروسه کې ځنډ هم د ډېرو افغانو مېرمنو پر اقتصادي حالت ناوړه اغېز کړی دی.
په پاکستان کې د ورکشاپ یوه افغانه ګډونواله وايي، نور یې له دې تیاره حالت څخه زړه تنګ دی؛
*"غواړم داسې یوه هېواد ته لاړه شم چې هلته سوله وي. داسې هېواد چې هلته خپلې زده‌کړې مکملې کړای شم"*
پاکستان ته تللې ډېرى افغانانې په دې باور دي چې یوه داسې هېواد ته تللې دي چې نه یې پکې څوک خپلو چارو ته پرېږدي، نه د ژوند لومړنیو اړتیاوو پوره کولو ته لاسرسی لري، ځکه دوی رسما راجستر شوې نه دي.
دوی وايي، په یوه جنجال اوښتې او حتا د خپلو پاسپورټونو د تمدید وس هم نه لري.

پاکستان، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"طالبانو چې افغانستان ونیو، ما له ځان سره وویل چې ښه به وي چې یوه بل هېواد ته لاړه شم، خو پاکستان ته چې راغلم، ژوند نور هم سخت او له ګواښونو او ننګونو سره مخ شو. دلته د وېزې په ګډون، له بې کارې، بې روزګارې، مالي او ګڼو نورو ستونزو سره مخ یم. زه اوس په داسې یوه هېواد کې اوسم چې زما پر فعالیتونو هم پکې محدودیتونه وضع دي."**

له تاجکستان، پاکستان او ایران څخه زرګونه افغانان بېرته افغانستان ته لېږل شوي دي.[71] د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ یا یوایچ‌سي‌ار وايي، د ۲۰۲۲م کال د اګسټ له شپاړسمې را په دې خوا، اتیا تنه افغانان چې پنا یې غوښته، له تاجکستان څخه شړل شوي او بېرته افغانستان ته لېږل شوي دي او له دغه هېواد څخه د افغانانو د بېرته ایستلو دغه شمېرې هم ورځ په ورځ مخ په زیاتېدو دي.
دغه اداره وايي، افغان کډوال په داسې حال کې خپل وطن ته لېږل کېږي چې نه د هویت کوم سند په لاس کې لري او نه هم هلته د مرستې څوک لري او په عین حال کې دوی تر پخوا اوس لا ډېر په خپل وطن کې له ګواښ او خطر سره مخ دي.[72]

تاجکستان، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"په دې وروستیو کې موږ دلته بېخي ځان خوندي نه احساسوو، ځکه د تاجکستان حکومت له خپله هېواده د افغانانو د ایستلو لړۍ پیل کړې ده او ګڼ شمېر کورنۍ یې بېرته افغانستان ته شړلې دي."**

---

[71] The International Organization for Migration (IOM) reports thousands of deportations from Iran to Afghanistan in its Movement in and out Afghanistan infographics: see https://reliefweb.int/report/afghanistan/movements-and-out-afghanistan-16-31-july-2022
[72] UN News, "Afghanistan: UNHCR alarm over forced refugee returns from Tajikistan." 25 August 2022

## 4. پر لاره او کوربه هېوادونو کې تبعيضي چلند

په متحده ایالاتو کې د بیا مېشتېدنې په برخه کې د شته ناانډولي له امله، افغانان د بشردوستانه پرول په تر لاسه کولو کې له ګڼو خنډونو سره مخ دي، اما یوکراینیانو ته بیا لومړیتوب ورکول کېږي.[73]
ډېری افغانو مېرمنو د بیامېشتېدنې په پروسه کې د ښکېلو چارواکیو له توکم‌پالنې سر ټکولی دی چې په خبره یې، د همدې تبعیض په اساس ورسره هم د لارې په اوږدو کې، هم د مرسته کوونکیو له خوا او هم په وروستي پړاو کې د ټولنو له خوا نامناسب چلند کېږي.
د ښځو د بشري حقونو ګڼ شمېر ملاتړو افغانو مېرمنو شکایت کړی دی چې د کېس‌ورکرانو له خوا ورسره له اخلاقي اصولو لېرې چلند شوی، د بېلګې په توګه یې امریکا ته د ښځو د بشري حقونو د یوې تللې ملاتړې افغانې خبرې را اخلو؛
*"دوی پر موږ ریشخند وهي، دوی نه یوازې زموږ چارو ته لومړیتوب نه ورکوي، بلکې بابېزه یې بولي. موږ د دغسې ناوړه سلوک نه و سزاوارې."*
د دغو افغانو مېرمنو له ډلې، ډېریو یې په سمه توګه د کېس‌ورکرانو د روزنې غوښتنه کړې ده.

تر دې ورهاخوا له افغانو مېرمنو سره حتا خپلو هغو افغانانو هم سم چلند نه دی کړی چې په داوطلبه توګه د مېشتېدنې په برخه کې له اړوندو چارواکیو سره کار کوي.

**کاناډا، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛**
**"زه د خپلو هغو افغانانو له تعصبه ډک چلند حیرانه کړې یم چې له اړوندو ادارو سره یې د ژباړونکي یا په نورو برخو کې د کارکوونکي په توګه کار کاوه. دوی فکر کاوه چې موږ په کاناډا کې د مېشتېدو لیاقت نه لرو. پر دوی بده لګېده چې ولې کاناډا دلته زموږ د دایمي مېشتېدنې چارې چټکې رواني کړې دي او یا هم د مېشتېدنې په برخه کې ځینې امتیازات راکول کېږي."**

دغه مېرمنې د همدې تعصبي سلوک له امله نه یوازې له روانې پلوه تر ځپل کېدو، د خدماتو تر پارچاوي او د ځینو اړینو ضرورتونو تر نه پوره کېدو پورې له خپلو حقونو بې‌برخې شوې دي، بلکې له نورو ګڼو ستونزو او ننګونو سره یې هم پسې مخ کړې دی.

[73] As of the end of August 2022, the U.S. government has approved less than 2% of Afghan applications it processed for humanitarian parole. Najib Amini and Dhruv Mehrotra, "The US Has Approved Only 123 Afghan Humanitarian Parole Applications in the Last Year," Reveal, 19 August 2022.

پاکستان، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛
**"دلته زه تر اوسه ځان خوندي نه حسوم. خلک زموږ په اړه له ځانه قضاوتونه کوي، تبعیض راسره کوي، په یوه او بل نامه مو یادوي، حتا کافرانې مو بولې. زموږ په جامو پسې یې راخیستې، بې‌حجابه مو بولي او فکر کوي موږ د دوی د هېواد لپاره یو سرخوږی او د اوږو بار یوو."**

# ج. هلې ځلې

د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانانې که په افغانستان کې دننه دي، که د باندې وتلې، په خپلو څرګندونو کې یې خپلو هلو ځلو او افغانو مېرمنو ته د کار کولو لپاره ژور تعهد ښوولی دی. دوی سره له دې چې په خپلو روانو مبارزو کې په نورو ګواښونو سربېره، له ناامنۍ نیولې، تر غریبۍ، بې‌کسۍ او یو عالم نورو ننګونو سره مخ دي، اما لا هم د داسې لارو چارو په لټه دي چې په مټ یې خپلې چارې او اداري بېرته له سره سمې او له نویو شرایطو سره منظمې کړي.

## 1. ښځو ته کار د ژوند او هویت په مانا

ډېری افغانې مېرمنې د ښځو د حقونو د خوندیتوب په برخه کې خپلې هلې ځلې او فعالیتونه د دوی د ژوند اصلي محور بولي. د دوی اکثریت یې په خپلو مرکو کې پر دې غږېدلې دي چې د ښځو د حقونو په برخه کې کار ورته څومره مهم دی او دوی څه ورڅخه تر لاسه کړي دي.

د افغانستان په ختیز کې د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛
**"زما چارې ما ته د ښځو د ژوند د خوندیتوب په مانا دي. دا ما ته ډېر زیات ارزښت لري."**



د ښځو د بشري حقونو ملاترو افغانو مېرمنو له ګڼ شمېر ګواښونو سره سره، بیا هم په خپلو خبرو کې د افغانستان ښځو او د هغوی د حقونو خوندیتوبو ته د خپلې ژمنتیا یادونه کړې ده.
د افغانستان په شمال لوېدیز کې د ښځو د یوې شبکې همغږې کوونکې وایي، سره له دې چې د طالبانو تر راتګ مخکې یې لا د مرګ ګواښونه تر لاسه کړي وو، اما بیا یې هم خپلو چارو ته دوام ورکړ او د مېرمنو په خاطر کې یې د طالبانو تر تسلط وروسته هم، له افغانستان څخه د وتلو وړاندیز رد کړ. **"زما دنده زما د ژوند موخه ده. ما غوڅه پرېکړه کړې ده چې له خپلې ټولنې سره پاتې کېږم او کار ورته کوم."**

د ښځو لپاره کار کولو ته د افغانو مېرمنو دومره لوړ اهمیت ورکول او اوس د دوی د چارو په ټپه درېدل د دې لامل شوی دی چې زیاتې دغه مېرمنې یې دا مهال له ژور خپګان، ابهام او اروايي ستونزو سره مخ کړې دي.
سویډن، د ښځو د بشري حقونو ملاترې افغانه؛
*"زما دنده زما لپاره د ساه اخیستو په څېر مهمه وه. د ښځو د حقونو دفاع راته تر هر څه لومړیتوب درلود او د وطن پرېښوول راته د ژوند له ترخو تجربو یوه وه."*

استرالیا، د ښځو د بشري حقونو ملاترې افغانه؛

**"زه اوس هم هڅې کوم چې د خپلو افغانانو لپاره یو څه وکړم. دلته هیڅ ښه حس نه کوم، ځکه دا راته سخته ده چې دلته پاتې شم او هیڅ هم و نه کړم. ځان راته بې فایدې او بې مانا ښکاري. که زه په ښه شوې نه وای، ما به حتما یو څه کړي وای."**

## 2. د فعالیت اوسنۍ وضعیت

### په افغانستان کې دننه؛

په افغانستان کې دننه د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغاناني وايي، د طالبانو د جابر اقتدار پر ضد غږ پورته کول اسانه کار نه دی، بلکې له شديدې ناامنۍ او ګواښونو سره يې مخ کړې دي.
هغه نجونې او ښځې چې د خپلو حقونو لپاره مبارزې او مظاهرې کوي، له برمته کولو نيولې، له تر نيول کېدو، زنداني کېدو، شکنجې، ترې تيم کېدو او حتا د وژل کېدو له ګواښ سره مخ دي.[74]
د ښځو د بشري حقونو افغانې ملاتړې وايي، د دوی له امله يې کورنۍ هم له ګواښ سره مخ دي او وېره لري چې که خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړي، دوی او کورنۍ دواړه به يې په ننښه او تاوان ورته ورسول شي.
دغه ګواښونه او خطرونه د دې لامل شوي دي چې په افغانستان کې اوس د ښځو د حقونو لپاره کار کوونکيو ادارو او مدني ټولنو هلته خپلې چارې درولې دي.

> پاکستان، د ښځو د بشري حقونو يوه افغانه ملاتړې؛
>
> **"د ښځو د حقونو مدافعانو له بهرنيو مرستو او ملاتړ پرته خپل غږ پورته کړی او د ښځو د حقونو د خونديتوب لپاره کار کوي. داسې ډېرې ښځې ورکې شوې دي چې لورې يې نه دي مالوم يا د طالبانو له خوا نيول شوې دي. د ښځو د حقونو د فعالانو ساتنه بايد وشي چې دوی خپل غږ پورته کړي او د مېرمنو د حقونو تر لاسه کولو لپاره مبارزه وکړي."**

په افغانستان کې ډېرو کمو مېرمنو ويلي دي چې دومره ملاتړ لري چې په يوه نسبتا خوندي چاپېريال کې ښځو ته د کار کولو زمينه برابره کړي.
د مدني ټولنو او د ښځو د حقونو د ادارو په نوم دغه شبکې چې لا هم په افغانستان کې فعالې دي او مشري يې داسې افغانې مېرمنې کوي چې خپله هم له لويو ګواښونو او خنډونو سره مخ دي، خپلې چارې په خورا احتياط مخکې وړي. دوی د ښځو د حقونو د خونديتوب په موخه خپلې چارې په انفرادي او انلاين توګه پر مخ وړي او کله کله خو لوی خطر په سترګو ويني، اما بيا هم مظاهرې کوي. د ښځو لپاره د دوی د فعاليتونو همداسې جاري ساتل له لويو خطرونو سره لوبې کول دي، ځکه دوی حتا نه شي کولای له نارينه او يا محرم پرته د باندې ووځي چې د ولسواليو او ولايتونو په کچه نورې ښځې راټولې او د ځان ملګرې کړي.


هغه فعالانې چې هم د جنسيت او هم د قوميت په اساس له تبعض سره مخ دي، هغوی ته دغسې فعاليتونه تر نورو هم ډېر سخت دي.
باميان، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

[74] As of the end of August 2022, the U.S. government has approved less than 2% of Afghan applications it processed for humanitarian parole. Najib Amini and Dhruv Mehrotra, "The US Has Approved Only 123 Afghan Humanitarian Parole Applications in the Last Year," Reveal, 19 August 2022.

*"هیڅوک هم د دې جرات نه لري چې د ښځو د حقونو لپاره راووځي، ځکه طالبان ډېر خونړي دي او په بامیانو کې خو په ځانګړې توګه د مذهب او قوم په اساس ښځې تر نورو ډېرې له تبعیض سره مخ دي. دلته خلک ډېر په وېره کې دي."*

د ښځو د بشري حقونو افغانې ملاتړې پر نړیواله ټولنه غږ کوي چې د ښځو د حقونو لپاره د مبارزې په برخه کې دې د دوی ساتنه وکړي.
افغانو مېرمنو له دې دومره جدي خطرونو سره سره لا هم خپل غږ اوچت ساتلی، بلکې خپلې مبارزې ته دوام ورکوي.
دا چې احتجاجونه او مظاهرې د ښځو لپاره له خطرونو ډکې دي، د ښځو ځینو ډلو او کارکوونکیو اوسنیو شرایطو ته په کتو، خپلې چارې له سره، په نوې بڼه تنظیم کړې دي او تر یوې اندازې بریالۍ شوې هم دي.
ځینو ښځو په خپلو ځرګندونو کې په دې اړه چې څنګه کولای شي له شته خنډونو او ګواښونو سره مقابله وکړي، د پټو لیدنو او مجلسونو یادونه کړې ده.
ښځې په کوچنیو کوچنیو مجلسونو کې سره راټولېږي، پوسټرونه چاپوي او پر دېوالونو پیغامونه لیکي، دوی پر ټولنیزو رسنیو احتجاج کوي، خو په عین حال کې مخکې له دې چې طالبان یې وپېژني، ځانونه پټوي.
ځینو ښځو خو په خپلو ټولنو کې له سپین‌ږیریو او چارواکیو سره د خپلو لیدنو یادونه کړې ده چې په پایله کې یې د کارکولو او د نجونو د ښوونځیو په پرانیستلو کې بریالۍ شوې هم دي.

## له افغانستانه د باندې؛



د ښځو د بشري حقونو ملاترې افغانانې له افغانستانه د باندې په کاناډا، ایټالیا او تاکجستان کې د ښځو لپاره د نویو ادارو جوړولو یادونه کړې ده، خو د یونان او متحده ایالاتو په ګډون، په ځینو نورو هېوادونو کې بیا که څه هم هڅې شوې دي، خو د سرچینو، مالي ملاتړ، کمپیوټرونو، انټرنیټ او ځای د نه شتون له امله مېرمنې د نویو ادارو په جوړولو نه دې توانېدلې.

په دې سربېره، هغه ښځې چې لا هم په دریمو هېوادونو کې پر لاره دي، د ورپېښو سرګردانیو او بېلابېلو هېوادونو ته د دوی د همکارو ملګریو ښځو تګ په دغه برخه کې له خنډونو سره مخ کړې دي.

کاناډا، د ښځو د بشري حقونو ملاترې افغانه؛

**"په کابل کې زموږ دفتر تړل شوی دی، اما موږ خپلو چارو ته په انلاین بڼه دوام ورکوو. یو کال کېږي چې زموږ ټولې همکارانې له معاش پرته کار کوي. ما په کاناډا کې خپله اداره راجسټر کړه، که څه هم هیڅ مالي ملاتړ نه لرم، خو هیله لرم چې له دې ځایه هم هغومره څه وکړای شم چې په افغانستان کې مې کول."**

په عین حال کې ځینې نورې افغانې مېرمنې چې دا مهال په بېلابېلو هېوادونو کې مېشتې دي، د هماغو هېوادونو د حکومتونو له خوا د وضعه شویو بندیزونو او داخلي او بهرنیو سیاستونو له امله خپلې چارې نه شي پر مخ بېولای.

د بېلګې په توګه، هغه مېرمنې چې د افغانستان ګاونډیو هېوادونو ته تللې دي، د خپلو چارو د دوام لپاره هیڅ مېکانیزم نه لري. پاکستان، تاجکستان او ترکیې ته تللې د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانانې وایي، نه یوازې د وېزو او ملاتړ نه شتون یې د چارو مخه نیولې، بلکې وايي، هلته د حکومتونو د سیاستونو له امله له خنډونو او ستونزو سره مخ دي. ترکیه، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

*"د ترکیې حکومت هیڅ داسې مدني او سیاسي حرکت ته اجازه نه ورکوي چې پکې د طالبانو پر ضد غږ پورته کېږي."*

تاجکستان، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"دلته په تاجکستان کې ډېر سخت بندیزونه دي. ټولنه د مدني فعالیتونو پر مخ تړلې او د ښځو د حقونو فعالانې محدودې کړل شوې دي."**

په دې سربېره، له افغانستانه د باندې وتلې ځینې مېرمنې هم د هغو افغانو مېرمنو په څېر له ګواښونو سره مخ دي چې لا هم په افغانستان پاتې دي.

د ښځو د بشري حقونو افغانو مدافعانو ویلي دي، د دوی فعالیتونه یې اوس د کورنیو هغه غړي له ګواښ سره مخ کړي دي چې لا په هم افغانستان کې پاتې دي او دې چارې دوی له رواني پلوه له ستونزو سره مخ کړې دي.

استرالیا، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

*"زما لویه ستونزه دا ده چې خورېي مې د طالبانو له خوا پېژندل شوی دی او زما له امله له ګواښ سره مخ دی. زه له همدې امله نه شم کولای په ډاګه خپل غږ اوچت کړم."*

ترکیه، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"زما د کورنۍ ځینې غړي لا هم په افغانستان کې پاتې دي. طالبانو زموږ کور تلاشي کړی و او په رسنیو او حکومت کې یې زما د کار کولو د وخت عکسونه موندلي وو. زما د کورنۍ غړیو له ویرې کور پرې ایښی او ځانونه پټ کړي وو. هغه ګواښ چې دوی ورسره مخ دي، ما ته ویرووونکي ټکان راکوي. پر دوی چې څه تېرېږي، لامل او مسوول یې ما ته خپل ځان ښکاري."**

له افغانستانه د باندې وتلې ډېرى فعالانې وايي، د ښځو لپاره کار کوونکې شبکې کمې شوې دي.
د دوی له ډلې ځینو یې بېرته په افغانستان کې له پاتې نیمه‌نیمزاله فعالو شبکو سره همکاري پیل کړې ده.
ځینې مدافعانې بیا وايي چې تر اوسه د افغان مېرمنو لپاره ډېر محدود شمېر فعالیتونه ډیزاین او عملي شوي دي چې رهبري یې د افغانو مېرمنو پر ځای، د نړیوالو له خوا کېږي او له همدې امله دوی نه دې توانېدلې چې له افغانستان څخه د باندې، خپلې هڅې له هغوی سره شریکې کړي.

د ښځو د بشري حقونو افغانې مدافعانې که په افغانستان کې دننه دي، که د باندې، دوی ټولنیزې رسنۍ او لنډ لیکلي پیغامونه له یوه بل سره د اړیکو نیولو لپاره کاروي چې ښه پایله یې هم ورکړې ده.
د VOICE له خوا په پاکستان او امریکا کې جوړو شویو هنري ورکشاپونو ثابته کړه چې د یوه داسې ځای شتون چې دغه ښځې سره یکې پر خپلو اړوندو موضوعاتو راټولې شي، بېخي مهم دی.
د دغو ورکشاپونو څو تنې ګډونوالې وايي، د داسې یوه ځای چې دوی یکې له داسې نورو ښځو سره یو ځای شي چې د دوی په څېر حالت یې تېر کړی دی او دوی درک کوي، د دوی لپاره بېخي ګټور دی.
امریکا، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛
*"نن چې زه ستاسې تر منځ یم، احساس کوم چې له داسې چا سره یم چې ما درک کوي او عین زما په څېر حالت یې تجربه کړی."*

ځینو نورو بیا د ورته پروګرامونو او له افغانستانه د باندې د ښځو له ملاتړو ادارو سره د اړیکو جوړولو او له هغوی سره پر یو ځای کېدو ټینګار کاوه.
په بېلابېلو مرکو کې په اداري، لوجسټکي او مالي ملاتړ سربېره، له غرب مېشتو فېمینسټو ګروپونو سره پر راشه درشه، همغږي او پیغام جوړولو ډېر ټینګار شوی دی.
په دې سربېره، ګڼ شمېر ښځو د داسې پروګرامونو جوړېدل غوښتي دي چې د ښځو د بشري حقونو له افغانو مدافعانو سره مرسته وکړي چې خپلې چارې ورباندې روانې وساتي، په افغانستان کې له خپلو پاتې افغانو همکارانو سره اړیکې پکې ټینګې کړي او په دې توګه خپل خوځښتونه فعال او قوي وساتي.

پاکستان، د ښځو د بشري حقونو ملاترې افغانه؛

**"موږ د ښځو له ملاتړو ادارو غواړو چې زموږ د تېرو کالونو کار او لاسته راوړنې تر خلکو ورسوي او پاکستان او ایران ته تللې ښځې بېرته سره راټولې کړي چې د افغانو مېرمنو په اړه خپل اندونه او نظرونه سره شریک کړي."**

د ښځو د بشري حقونو افغانې مدافعانې چې دا مهال له افغانستان څخه وتلې دي، د مالوماتي پلونو په څېر رول لوبوي.
دوی نړۍ له افغانانو مېرمنو او په کور دننه او د باندې د د دغو مېرمنو له واقعیتونو سره وصلوي. دوی په افغانستان کې دننه پر ښځو د تېرېدونکي حالت مالومات را ټولوي او د ټولنیزو رسنیو له لارې یې تر نړۍ رسوي.
د دغو ښځو د فعالیت لپاره ټولنیزې رسنۍ بې‌جوړې کار کوي.
پاکستان، د ښځو د بشري حقونو ملاترې افغانه؛
*"زه په خپلو امکاناتو دلته خپلو فعالیتونو ته دوام نه شم ورکولای، زما لپاره یوازینۍ لاره ټولنیزې رسنۍ دي."*
ټولنیزې رسنۍ د ډېرى بې‌کوره شویو افغانو فعالانو لپاره د مالوماتو په راټولولو، عدالت غوښتنې او د چارو څارولو لپاره یوه ښه لاره ده، څکه دوی اوس نه شي کولای د تېر په څېر له نورو لارو خپلې چارې پر مخ بوځي.

هالنډ، د ښځو د بشري حقونو ملاترې افغانه؛

**"زه چې په افغانستان کې وم، هر څه چې پېښېدل، په اړه یې غږېدم، اما اوس مې خوله تړلې ده، یوازې غوږ مې نیولی وي. زما شل کلنې کاري تجربې ته په کتو، دا راته ډېره سخته ده چې ومنم، نور کوم فعال رول نه شم لوبولای."**

له بې کوره شویو افغانو مېرمنو سره په مرکو کې یوه موضوع چې پرلپسې یاده شوې او ډېر پام ځان ته ور اړوي، هغه د راتلونکي په اړه د افغانو مېرمنو امېدواري ده.
امریکا، د ښځو د بشري حقونو ملاترې افغانه؛
*"زه په افغانستان کې پاتې مېرمنو ته دا نه شم ویلای چې لویو لارو او سړکونو ته دې راووځي، څکه ژوند یې په خطر کې دی، اما دا ورته ویلای شم چې ناهیلې کېږي دې نه، دا حالت بدلېږي."*
په دې سربېره، ډېرى نورو افغانو مېرمنو حتا په ډېرو سختو شرایطو کې راتلونکي ته خوشبیني له لاسه نه ده ورکړې، بلکې لا هم د ځان او خپلو همکرانو راتلونکي ته هیلې لري.

یونان، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"سره له دومره ناخوالو، زه بیا هم د افغانستان راتلونکي ته هیله‌منه یم، ځکه زموږ نجونو او ښځو په تېرو شلو کالو کې ډېر بدلون کړی دی. دوی د افغانستان او ځان لپاره مختلف ارمانونه لري. دوی به نه جبر ته تسلیمې شي او نه به له خپلو حقونو پر شا شي. خدای مهربانه دی، دغه حالت به تېر شي او هر څه به بېرته سم شي."**

کاناډا، د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانه؛

**"زه د ټولو افغانو مېرمنو لپاره د یوه داسې ژوند ارمان لرم چې د نړۍ د نورو ښځو په څېر په یوه امن او خوندي چاپېریال کې ښه او اسوده ژوند وکړي. ښځې حق لري چې له تعصب پرته ژوند وکړي، زده‌کړې او کار وکړي. زه پوهېږم د دې ارمان پوره کېدل اوس ناممکن ښکاري، اما د افغان مېرمنو مقاومت زما تمه لا ډېروي او باور لرم چې یوه ورځ به مې دا ارمان پوره شي."**

## وروستۍ څپرکی

# سپارښتنې

د دې څېړنې موخه د ښځو د بشري حقونو افغانو ملاتړو مېرمنو ته د دې زمينه برابرول و چې د وروباندې تېرو شويو تجربو په اړه وغږېږي او له وروباندې راغلي حالت څخه پاليسي جوړوونکي، حکومتونه او هغوی چې د دوی د امنيت، خونديتوب او حقونو د ساتنې مسوولين دي خبر کړي.

د تېرو شلو کالو په اوږدو کې د ښځو د حقونو خونديتوب په افغانستان کې د غرب د پوځي مداخلې لپاره د توجيه په توګه کارول شوی، **څکه خو اوس نړيواله ټولنه مسووله ده چې د افغانو مېرمنو اړتياوې، خونديتوب، حقونه، هيلې او ارمانونه درک او لومړيتوب ورکړي.**
د VOICE له خوا په شويو مرکو کې يو دردوونکی او د نه هېرولو وړ ټکی دا دی چې ډېری افغانو مېرمنو د مرکو پر مهال د وضعيت د ښه کېدو په اړه، نړيوالې ټولنې ته له سپارښتنو ورکول څخه ډډه کړې ده.

د نړيوالې ټولنې د مخکېنيو ناغېړيو له امله ډېری افغانو مېرمنو باور نه درلود چې سپارښتونو ته به يې څوک غوږ ونيسي او يا به عمل وروباندې وکړي.
د ښځو د بشري حقونو د افغانو مدافعانو له شکونو او ناهيلي سره سره، بيا هم تقريبا ټولو هغو مېرمنو چې VOICE ورسره مرکې کړې دي، له نړيوالې ټولنې سره د افغانو مېرمنو اړتياوو ته د رسېدګي په برخه کې د ښکېلتيا لېوالتيا ښوولې ده.
موږ په ټينګار وايوو چې د افغانو مېرمنو لپاره که نور څه کېږي که نه، لږ تر لږه پر دغو لاندې سپارښتنو خو بايد عمل وشي.
نو که چېرې له دغو سپارښتنو څخه پر هره يوه يې عمل کېږي، **دا بايد په پام کې ونيول شي چې له ښکېلو اړخونو، هر يو يې بايد خپلې چارې د افغانانو مېرمنو او نجونو پر څرګندونو، تجربو او رهبري متمرکزې کړي. دغه سپارښتنې په افغانستان کې دننه او له دغه هېواده د باندې د ښځو په مشرۍ د بېلابېلو ډلو پر ښکېلتيا، بيا کتنه او ارزونه باندې راڅرخي او پر داسې مېکانيزمونو جوړولو ټينګار کوي چې پکې د دغو ښځو تجربو، اندونو او مشورو ته عملي بڼه ورکول شي.**

امریکا، د ښځو د بشري حقونو یوه افغانه ملاتړې؛

**"زه په دې باور یم چې ټولې چارې باید د افغانو مېرمنو په مشرۍ تر سره شي. مثلا که یوه اداره د افغانو مېرمنو لپاره کوم پروګرام جوړوي او زه پکې یوازې د ګډونوالې په توګه برخه اخلم او په طرح او ډیزاین کې یې هیڅ رول و نه لرم نو... همداسې که د افغانو مېرمنو مشرانې د پروژو په طرح کولو او عملي کولو کې ښکېلې نه کړل شي، فکر نه کوم چې چندان دې ګټورې تمامې شي."**

که څه هم VOICE دا منې چې د لاندې یادو شویو اهدافو د تر لاسه کولو لپاره ځینې ګامونه پورته کړل شوي دي، خو دغه اقدامات بریا ته د رسېدو په برخه پاتې راغلي دي. خواښېنوونکې دا ده چې ډېری ښکېل اړخونه د ښو کارونو پر ځای، یوازې ښې خبرې کوي او دې کار یې د ښځو د بشري حقونو د ملاتړو افغانو مېرمنو هغه نااومېدې لا نوره هم ډېره کړې چې اوس ورڅخه کړېږي. VOICE پر ټولو ښکېلو اړخونو غږ کوي چې د افغانو مېرمنو د روانو هلو ځلو د جاري ساتلو په موخه دې، دوی ته د خوندي چاپېریال په جوړولو کې، خپل مسوولیتونه او مکلفیتونه په سمه توګه سر ته ورسوي. موږ هیله لرو چې زموږ دغه راپور به نه یوازې له افغانو مېرمنو سره د جبر پر خلاف د دوی د غږ په اوچتولو کې مرسته وکړي، بلکې تمه لرو چې د ښځو د بشري حقونو ملاتړو افغانو مېرمنو ته به عدالت او هیلو ته د رسېدو یوه وسیله شي او دوی به په دې باوري کړي چې VOICE او د نړۍ په کچه ښځو د ملاتړې نورې ادارې د دوی د حقونو او راتلونکي د خوندیتوب لپاره له دوی سره یو ځای ولاړې دي.

VOICE د خپلې څېړنې په اساس ټولو ښکېلو اړخونو ته لاندې سپارښتنې کوي.

| مهم ښکېل اړخونه |
| --- |
| **حکومتونه؛** د کوربه هېوادونو حکومتونه او تمویلوونکي چې د بېکوره شویو افغانو مېرمنو د خوندیتوب، مېشتېدنې او د دوی د حقونو د ساتنې مسوولیت ور په غاړه دی. |
| **ملګري ملتونه؛** یوناما، د ملګرو ملتونو د ښځو اړونده څانګه، UNOCHA، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري او د ملګرو ملتونو امنیت شورا. |
| **نادولتي‌اداري؛** نړیوالې او ملي نادولتي ادارې، د ښځو ملاتړې او تمویلوونکې ادارې، پوهنتونونه او نورې هغه مرستندویه اداري چې له بېکوره شویو او په افغانستان کې له پاتې مېرمنو سره د مرستې په موخه کار کوي. |
| **تمویلوونکي؛** حکومتونه، شخصي بنسټونه، پوهنتونونه او د ملګرو ملتونو اړوندې اداري چې د افغانو ښځو او نجونو مالي ملاتړ کوي. |

| مهم ښکېل اړخونه | ملګري ملتونه | حکومتونه |
| --- | --- | --- |
| | | |

## 1. حکومتونه او د ملګرو ملتونو اړوندې اداري دې پر طالبانو فشار زیات کړي چې د افغانو مېرمنو او نجونو حقونه په رسمیت وپېژني او احترام يې وکړي.

- د افغانستان د مشروع حکومت په توګه د طالبانو له په رسمیت پېژندلو څخه ډډه وکړئ او پر هغو حکومتونو فشار زیات کړئ چې یا غواړي طالبان په رسمیت وپېژني، یا یې ملاتړ کړي.
- له ټولو ډیپلوماټیکو لارو پر طالبانو فشار راوړئ چې نه یوازې خپل قوانین، پالیسیانې او چلند بدل کړي، بلکې د نجونو او ښځو ټول حقوق ومني، مدني ټولنو، د ښځو اړوندو ادارو او د بشري حقونو ملاتړو مېرمنو ته اجازه ورکړي چې خپل فعالیتونه له سره پیل کړي.
- د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د سفري بندیزونو په ګډون چې باید د طالبانو پر ټولو مشرانو ولګول شي، د حساب ورکوونې د شته ټولو مېکانیزمونو او د نړیوالې ټولنې له نفوذ څخه په ګټه اخیستنه، طالبان د نقض شویو بشري حقونو حساب ورکولو ته اړ کړئ.
- یو داسې قوي مېکانېزم جوړ کړئ چې د ښځو د بشري حقونو له بېلابېلو افغانو ملاتړو مېرمنو او د ښځو په مشري ادارو سره د مشورو له لارې، له یوناما سره په ګډه کار وکړي او له طالبانو سره د خبرو اترو زمینه برابروونکي حکومتونه وپوهوي چې په دغو خبرو اترو او ټولو سیاسي جریانونو او غونډو کې ښځو ته مرکزي رول ورکړي او په دې سربېره، له افغانستانه د باندې افغانې مېرمنې په دغو جریانونو کې ښکېلې کړي.

یونان، د ښځو د بشري حقونو یوه ملاتړې افغانه؛

**"افغانو مېرمنو په تېرو شلو کالو کې په بېلابېلو برخو کې کار کړی دی. د دوی له ډلې ډېری يې د طالبانو د تېر حکومت پر مهال هم د زده‌کړو او کار تجربې لري. دوی پوهېږي چې له څنګه ننګونو سره مخ دي او څنګه باید بریالۍ ورڅخه ووځي. د دوی د تجربو په اساس باید په اړوندو برخو کې د دوی سلا مشورې واخیستل شي. که نړیواله ټولنه له زړه غواړي چې له افغانستان سره مرسته وکړي، نو په دې برخه کې به د افغانو مېرمنو مشورې او لارښوونې ډېرې ګټورې وي."**

| مهم ښکېل اړخونه | نادولتي‌اداري | ملګري ملتونه | حکومتونه |
|---|---|---|---|

## 2. حکومتونه، د ملګرو ملتونو اړوندې او نورې نادولتې اداري دې هغو بشردوستانه او پرمختيايي پروګرامونو ته لومړيتوب ورکړي چې د ښځو امنيت، خونديتوب او د دوی د حقونو ساتنه کوي او ښځو ته په ټولو چارو کې د ښکېلتيا زمينه برابروي.

- يو داسې مېکانېزم جوړ کړئ چې په مټ يې د ښځو د بشري حقونو د افغانو مدافعانو په ګډون، په کور دننه او د باندې افغانې مېرمنې او نجونې د کارپوهانو په توګه ښکېلې شي، مشورې ورکولای شي او د بشردوستانه او پرمختيايي پلانونو په طرح کولو، عملي کولو او ارزولو کې ونډه ولري.
- ښځې بايد په لاندې برخو کې ښکېلې شي.
  - داسې پروګرامونه چې د بې ځايه شويو او بې‌وطنه افغانو مېرنو اړتياوو او لومړتيوبونو ته رسيدګي وکړي.
  - له افغانستانه د وتلو او بيا مېشتېدنې ټوله پروسه.
  - په نړېواله کچه د تصميم نيوونې پروسه چې د بشردوستانه او پرمختيايي ملاتړ پر تنظيم او څار اغېز لري.
- طرح د افغانستان لپاره اوږدمهالې ستراتېژي جوړه کړئ. تر اضطراري غبرګون هاخوا، د پرمختګ او اوږدمهالې ښکېلتيا لپاره پر داسې پروګرامونو تمرکز وکړئ چې له بشري پراختيا سره تړلې وي.
- په افغانستان کې دننه، پر لاره او بېلابېلو هېوادونو کې مېشتې افغانې مېرمنې، په ځانګړې توګه هزاره او تاجکې مېرمنې د افغانستان لپاره په نړېوالو پروژو کې د سلاکارانو، کارکوونکيو او تصميم نيوونکيو په توګه وګمارئ.
- پر دې ځان يقيني کړئ چې په افغانستان کې دننه د ټولو پروګرامونو لګښت تر کوچنيو ولايتونو، لېرې پرتو سيمو، هغو کورنيو چې سرپرستي يې د ښځو پر غاړه ده، د ښځو تر رسنيو او مدني ټولنو پورې غوړېدلې او په ټولو پروګرامونو کې هزاره او تاجکو مېرمنو ته برخه ورکول شوې.

- د افغانو مېرمنو له سرخېلانو سره په مشوره، پر داسې ستراتېژیانو کار وکړئ چې په لنډمهالې توګه د ښځو او نجونو لپاره د معیاري زده‌کړو زمینه برابره کړي او په دې سربېره، پر داسې ستراتېژیانو هم کار وکړئ چې په اوږده مهال کې د دوی د زده‌کړو بهیر په بشپړه توګه تنظیم کړي.

| مهم ښکېل اړخونه | تمویلوونکي | نادولتي اداري | ملګري ملتونه | حکومتون |
|---|---|---|---|---|

## 3. حکومتونه، د ملګرو ماتونو اړوندې اداري او نادولتي موسسې دي لومړنیو خدماتو او اساسي حقونو ته د بې کوره شویو افغانو مېرمنو خوندي لاسرسی تضمین کړي.

- دا تضمین کړئ چې د ښځو د بشري حقونو ملاتړې افغانې مېرمنې د دوی د موقعیت، مېشتېدنې او حقوقي وضعیت له په نظر کې نیولو پرته، لږ تر لږه لاندې اړینو خدماتو ته لاسرسی لري.
  - د جنسي او ولادي روغتیایي اسانتیاوو په ګډون، بشپړ روغتیایي خدمات او داسې اروایي لاربښوونې او مشورې چې کلتوري نزاکتونه پکې په نظر کې نیول شوي وي.
  - د خوندي او ارزان بیه کورونو په ګډون، د بیا مېشتېدنې او حقوقي برخو کې مشورو او ملاتړ خدمات.
  - دومره مالي ملاتړ چې لومړنۍ اړتیاوې وربانديې پوره شي.

- داسې یو مېکانیزم جوړ کړئ چې ښځې او نجونې پکې محوري رول ولري، کلتوري نزاکتونه پکې په نظر کې نیول شوي وي او د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي له قربانیانو سره مرسته وکړي چې په محرمه او خوندي توګه هر څه بیان کړي. دا تضمین کړئ چې هغه کسان چې په دغه برخه کې له بې کوره شویو نجونو او ښځو مرسته کوي، په سمه توګه روزل شوي دي او د ښځو د بشري حقونو د افغانو مدافعانو حالت او ورپېښ ګواښونه درک کوي.[75]

- د ژباړې غم وخورئ او دا تضمین کړئ چې د ژبې ستونزه تر دې وروسته د دې لامل نه کېږي چې ښځې د ملاتړ او د دوی د حقونو په اړه له مالوماتو بې برخې پاتې شي.

| مهم ښکېل اړخونه | تمويلوونکي | نادولتي‌اداري | ملګري ملتونه | حکومتون |
| --- | --- | --- | --- | --- |

## 4. کوربه حکومتونه، د ملګرو ملتونو اړوندې او نورې نادولتي اداري دې د ښځو د بشري حقونو افغانو ملاتړو مېرمنو ته د زده‌کړو او دوامدار عايد زمينې برابرې کړي.

- بې کوره شويو مېرمنو ته د عايد او کار کولو داسې سرچينې برابرې کړئ چې دوی ورباندې خپل وقار خوندي وساتي، په ټولنه کې خپل ځای ومومي، يوه اندازه دوامدار عايد ولري او له خپلو وړتياوو او تجربو څخه ګټه واخلي.
- بې کوره شويو افغانو مېرمنو ته د معياري زده‌کړو د امکاناتو په برابرولو او مالي ملاتړ سربېره، د روزنې او تعليمي اسنادو د ارزونې داسې اسانتياوې برابرې کړئ چې په مرسته يې دغه مېرمنې نه يوازې خپلې وړتياوې لوړې کړي، بلکې په ټولنه کې هم د ځان لپاره مناسب ځای پيدا کړي.[76]

| مهم ښکېل اړخونه | ملګري ملتونه | حکومتون |
|---|---|---|
| | | |

## 5. حکومتونه دې د ښځو د بشري حقونو د بې‌کوره شویو ملاتړو افغانو مېرمنو ځای پر ځای کېدو ته لومړیتوب ورکړي او دغه پروسه دې په عاجله توګه ګړندۍ کړي.

- هغه کوربه هېوادونه چې بې ځایه شوې افغانې مېرمنې ورغلې دي، په ځانګړې توګه ایران او پاکستان چې دغه ښځې پکې له لوړو ګواښونو سره هم مخ دي؛ بې کوره شویو مېرمنو ته دې د قانوني اسنادو ورکړه چټکه کړي چې ښځې له رواني ستونزو، فقر او هغې ناهیلۍ څخه خلاصې شي چې اوس یې دوی او د دوی د کورنیو غړي ګالي.

- هغو نجونو او ښځو ته لومړیتوب ورکړئ چې تر نورو ډېرې له ګواښ سره مخ دي. د ښځو او نجونو ژوند ته ورپېښ خطر یو له هغو معیارونو وټاکئ چې له دوی سره له افغانستانه په راوتلو او ځای پر ځای کولو کې مرسته کوي، ځکه د اوسنیو معیارونو په اساس، (لکه د متحده ایالاتو د کډوالۍ ځانګړې ویزې ته ایښوول شوي شرطونه) له افغانستان څخه د را ایستل کېدونکیو انسانانو لویه برخه نارینه دي، خو ښځې نه شي کولای له دغه هېواده په اساني د وتو معیارونه پوره کړي.

- د افغانستان په ګاونډیو هېوادونو کې د روغتیایي ویزو د ورکړې لپاره مېکانېزم جوړ کړئ، ځکه ښځې په افغانستان کې روغتیایي اسانتیاوو ته د لاسرسي په برخو کې له ستونزو سره مخ دي.

| مهم ښکېل اړخونه | نادولتي‌اداري | تمويلوونکي | حکومتون |
|---|---|---|---|

## 6. د ملګرو ملتونو اړوندې اداري، نادولتي موسسې او تمويلوونکي دې د افغانو مېرمنو او نجونو د روانو هلو ځلو ننګه وکړي.

- د هغو هڅو ودې او پرمختګ ته پام زيات کړئ چې هم په کور دننه او هم له افغانستانه وتلې افغانې فعالانې سره را یو ځای کوي. دوی ته زمينه برابره کړئ چې خپلمنځي اړيکې کلکې، شبکې جوړې او پر داسې لارو چارو وپوهېږي چې پر مټ يې دوی په سياسي بحثونو، بشردوستانه فعاليتونو او پرمختيايي چارو کې د رهبري او مشورې په کچه اغېزناک رول ولوبوي.
- د افغانستان مدني ټولنو، د ښځو د حقونو اړوندو ادارو، د دوی اړوندو رسنيو او د ښځو د بشري حقونو پاتې نورو ملاترو افغانو مېرمنو ته د ظرفيت لوړونې او تمويل داسې شفاف، د باور او لاسرسي وړ دوامدار ملاتړ برابر کړئ چې دوی پرې د افغانو مېرمنو د حقونو لپاره خپل وکالات روان وساتي.
- ډاډ تر لاسه کړئ چې په افغانستان کې د سرچينو تخصيص د ښځو په مشرۍ ادارو او ښځينه فعالانو ته لومړيتوب ورکوي او تر کليو، لېرې پرتو سيمو او د هزاره او تاجکو په څېر تر قومي لږکيو په ښه توګه رسېږي.
- د راپور ورکولو له کاره لوېدلې، وخت ضايع کوونکې او سنتي کاغذپرانې کمه کړې، څکه همدا چارې تر مالي ملاتړ پورې د ښځو د مدني ټولنو رسېدو ته د لارې خنډونه دي. د ښځو د بشري حقونو د ملاتړ او افغانو مېرمنو لپاره نړيوال تمويل ته د لاسرسي د اسانه کولو په موخه خلاقانه، ګټورې او اغېزناکې لارې چارې وموميځ.

AMPLIFYING WOMEN AND GIRLS IN CRISES

VOICE